# په آخرت ایمان

## معنی،
## دلایل
## او غوښتنې ئې

حکمتیار

# پر آخرت ايمان

## معنی،

## دلائل

## او غوښتني ئې

## حکمتيار

# فهرست


| عنوان | صفحه |
|---|---|
| د ناشر مقدمه | ۱ |
| په آخرت ایمان | ۳ |
| پر آخرت د ایمان معنی: | ٤ |
| د آخرت د اثبات دلائل | ۸ |
| هر څه پېل او پای لري: | ۱۷ |
| د عملونو مکافات او مجازات: | ۲۱ |
| په عالم کي نظم او هدفمندي: | ۳۷ |
| په آخرت د ایمان غوښتني | ٦۱ |
| آخرت ته په دنیا ترجیح ورکول | ٦۱ |
| دنیا وسیله او آخرت هدف ګڼل | ٦۹ |
| له مرګه نه وېرېدل | ۷۲ |
| ډاډ او اطمئنان: | ۸۱ |
| جنت د چا لپاره؟ | ۸۳ |
| د عمل او اجر ورته والی | ۸۳ |
| څوک به قیامت نه مني؟ | ۹۰ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ناشر مقدمه

د الله تعالی د پېرزوينو ممنون يو چي موږ ته ئې د يوه بل ښکلي کتاب د خپرولو توفيق راکړ، دا کتاب د هغو درسونو د لړۍ يوه برخه ده چي ورور حکمتيار د اردوی سپاهيان رضاکار اسلام (اسرا) په تربيتي غونډو کي رضاکارانو ته درلودل او په ۱۳٦۹هـ ش کال کي د کتاب په بڼه کي ترتيب او چاپ شوی، بيا د ځينو عربو ورونو په غوښتنه، په عربي ترجمه او په کافي شمېر کي خپور شوی، دا کتاب په آخرت د ايمان معنی، غوښتني او هغه دلايل وړاندي کوي چي د بياژوندون او د عملونو د مکافات او مجازات په اړه په قرآن کي راغلي، د دې درسونو دا لړۍ د لاندي پنځو کتابونو په بڼه کي خپره شوې:

١. په الله تعالی ايمان، معنی، دلايل او غوښتني ئې.

٢. په آخرت ايمان، معنی، دلايل او غوښتني ئې.

٣. په پيغمبرانو ايمان، معنی، دلايل او غوښتني ئې.

۴. په کتابونو ايمان، معنی، دلايل او غوښتني ئې.

۵. په ملائکو او قضا او قدر ایمان، معنی، دلایل او غوښتني ئې.

د دغو اساسي مسایلو اهمیت ته په پام سره مو دا غوره وګڼله چي یو ځل بیا ئې خپل خدای پال او په دین مین ولس ته وړاندي کړو، هغو باایمانه ځوانانو ته چي د غربي استعمار د فکري یرغل په ضد ئې د مبارزې سنګر تود ساتلی او غواړي د ایمان په حقیقت پوه شي، نورو ته ئې وښیي، خپل فردي او اجتماعي ژوند د ایمان په رڼا کي او د خپل رب د لارښوونو مطابق تنظیم کړي او په آزاد او خپلواک افغانستان کي د اسلام پرتمین بیرغ رپانده وګوري، د دې کتابونو د ژوري او دقیقي مطالعې بلنه ورکوو، دعاء کوو چي الله تعالی موږ په دنیا او آخرت کي د هغو توریالیو مبارزینو په صف کي محسوب کړي چي له الله تعالی پرته بل چا ته سر نه ټیټوي، له بل چا طمعه او وېره نه لري، د خپل رب رضا لټوي او دې سپېڅلي هدف ته د رسېدو په لار کي هري قربانۍ ته چمتو دي.

اللهم اهدنا الصراط المستقیم

بسم الله الرحمن الرحیم

# په آخرت ایمان

په آخرت باندي د ایمان موضوع له هغو سترو موضوعاتو څخه ده چي په قرآن عظیم الشأن کي له هر څه نه زیاتورباندي بحث شوی، د کومي مسئلې په باب چي زیات دلائل ویل شوي او مشرکینو د هغې په اړه تر ټولو زیات اعتراضات کړي او منل ئې ورته گران وو، هغه په آخرت باندي د ایمان موضوع ده.

مشرکینو ته تر بلي هري موضوع د دي خبري منل گران وو چي قیامت به راځي، دا عالم به له منځه ځي، خپل ځای به بلي نړۍ ته پرېږدي، ټول مړي به بیاراژوندي کېږي، له هر چا سره به محاسبه کېږي، هر چا ته به د خپلو عملونو مکافات او مجازات ورکول کېږي، ځیني به جنت ته درومي او ځیني دوزخ ته، د دې موضوع په اړه ئې تر ټولو زیاتي پوښتني کړې، استهزاء ئې کړې، هغه ئې مهال گڼلې او د هغې په منلو کي ئې ستونزي درلودې.

په مکي سورتونو کي اکثراً په همدغي مسئلې بحث او ترکیز شوی. قریشو ته دا خبره آسانه وه چي الله ومني، خو د دې خبري منل ورته گران وو چي د دې عالم موجوده نظم به پای ته رسېږي او پس له هغه چي انسان

ومري، د هغه هډو کي وراسته شي او په زمکه کي تجزيه شي، هغه به بېرته راژوندی کېږي او بيا به حساب او کتاب وي، دا خبره هغوی ته ډېره مبهمه، مجهوله او غير قابل قبول معلومېده.

موږ به دا موضوع تر دريو عنوانو لاندي څېړو:

- په آخرت باندي د ايمان معنی څه ده؟
- قرآن عظيم الشأن د آخرت د اثبات لپاره کوم دلائل وړاندي کړي؟
- او په آخرت باندي د ايمان مقتضيات او غوښتنې کومي دي؟

## پر آخرت د ايمان معنی:

په آخرت باندي د ايمان معنی دا ده چي يو وخت به د عالم دا اوسنی نظم پای ته رسېږي، لکه څنګه چي هر څه ځانته اجل او د پای نېټه لري، دا هستي او کائنات هم ځانته اجل لري، په يوه معينه نېټه به دا نظام متلاشي کېږي، لمر او ستوري به تياره کېږي، هغه به په خپلو منځونو کي تصادم کوي، غرونه به له خپلو ځايونو خوځېږي، آسمان به ټوټې ټوټې کېږي، زمکه به د بحرونو تر اوبو لاندي کېږي، د عالم دا موجود نظام به متلاشي کېږي، لمر به له غربه طلوع وکړي، بيا به تک تور شي او د هغه له تياره کېدو سره سم به ستوري هم تياره شي، لمر به ټوټې ټوټې شي په زمکه به راپرېوځي، په دې ستر او پراخ عالم کي چي څه ترسترګو کېږي ټول به ختم شي، بيا به الله جل شأنه نوې دنيا، نوې زمکه او نوی آسمان، د نويو ضوابطو سره پيدا کړي، له دې موجوده زمکي او آسمانونو نه پرته، چي

هلته به نوي ضوابط حاکم وي، بیا به الله جل جلاله ټول انسانان د پیدایښت له شروع نه تر قیامته پوري، بیا راژوندي کړي، له خپلو قبرونو نه به راپاڅي، بیا به ټول د حشر په میدان کي راغونډ شي، د الله تعالی په وړاندي به ودرېږي، هر چا ته به خپله عمل پاڼه او د خپل ټول ژوند هغه اسناد په لاس کي ورکول کېږي چي خپل ټول کړه وړه به په کي ګوري، ټول اعمال به ئې ورته مجسم شي، هر څه به په هغه شهادت ورکوي، نه یوازي هر هغه څه به شهادت ورکوي چي د ده د اعمالو شاهد وو، بلکي د هغه د وجود اعضا به هم د ده په کړو وړو شهادت ورکوي، هغه ته به د انکار هیڅ امکان او مجال نه وي پاته، ټول عملونه به ئې ورته مجسم او څرګند شي، چاته به د عمل پاڼه په ښي لاس او چاته به په کیڼ لاس او له شا نه ورکړی شي، له ځینو سره به حساب داسي وي چي یوازي خپل عملونه به وروښودی شي او په همدې به اکتفا وشي او الله تعالی به له هغه سره مزید محاسبه نه کوي، خو له ځینو سره به حساب کېږي، بیا به هر څوک د خپلو عملونو اجر او مکافات په مکمله او بشپړه توګه ګوري.

انسان چي کوم عمل کړی او د ده د هر عمل له نېتې نه تر قیامته پوري چي د هغه په عمل کوم اثرات مرتب شوي، د دې ټولو اجر به په مکمله توګه تر لاسه کوي، د انسان هر عمل ګڼ شمېر اثرات لري او زیات نتائج پرې مرتب کېږي، ډېر خلک ترې متأثر کېږي، بیا همدغه متأثره شوي کسان د ده همدا عمل تکراروي او ډېر نور د دوی تراغېږ لاندي همدغه کار کوي، دا لړۍ ترقیامته پوري دوام کوي، دغو ټولو ته په پام

سره به انسان ته د ده د هر عمل بشپړه سزا او بدله ورکول کېږي، که هغه ښه کار کړی یوازې د همدې ښه کار بدله به نه ترلاسه کوي، بلکي په دې ښه کار باندې چي کوم نتائج مرتب شوي، نور انسانان ترې متأثره شوي او د ده په پل ئې پل ایښی او همدا کار ئې کړی، د دې ټولو په بدلې او مکافات کي به هغه هم شریک وي، بیا به ځیني د خپلو نېکو عملونو په بدل کي جنت ته ځي او ځیني به د خپلو بدو کړو وړو په وجه دوزخ ته درومي، کافران به دتل لپاره په دوزخ کي پاته کېږي مګر کله چي الله وغواړي او ګنهګار مسلمانان به له هغه وروسته چي د خپلو عملونو جزا وګوري جنت ته ځي، د هغوی په اړه به شفاعت منل کېږي، د عفوې او شفاعت په وجه به له دوزخ نه وځي او جنت ته به داخلېږي.

جنت د انسان د عملونو تجسم دئ، د هغه نېکي خبري دي چي هلته د مېوو په ونو بدلې شوي او د هغه نېک اعمال دي چي په بنګلو بدل شوي، د یوه عادي مسلمان د جنت سور به هومره وي لکه دا اوه آسمانونه او زمکه چي څنګ په څنګ کېږدې، د دې ستر او پراخ جنت نه د استفادې لپاره به طبعاً هغه په دې موجوده شکل کي نه وي، هغه به د یوه داسي مناسب هیئت سره په دغه جنت کي ژوند کوي چي له دې ټول خور او پراخ جنت څخه خوند واخیستی شي. همدا راز په دوزخ کي به هم هغه له دې ووړ جسد سره نه وي، ځکه د دوزخ د شدید اور لمبې خو داسي واړه واړه شیان لکه خس او خاشاک په هوا کوي، د هغه جسد به همدومره وي چي د خپلو ټولو عملونو جزا وګاللی شي، یعني هلته به دغه موجود جسد او

جثه او دا اوسنی قد او قامت نه وي، بلکي دا به له همغو حالاتو او ظروفو سره برابر وي.

په دې اړه چي جنت به د انسان د کړو وړو او د نېکو عملونو عملي تجسم وي، پیغمبر علیه السلام فرمایي: د جنت زمکه ښېرازه ده، اوبه ئې خوږې دي او د انسان تسبیح او ذکر هلته په ونو بدلېږي، چي یو ځل وایي: "سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبر"، په جنت کي تا ته یوه ونه شنه کېږي او دا ستا عملونه دي چي هلته درته په بنګلو بدلېږي.

په دوزخ کي به د انسان جزا او عذاب د ده عمل ته ورته وي، په دنیا کي چي هغه څه ډول عمل کړی، عذاب به ئې عمل ته ورته وي، دا په آخرت باندي د ایمان مختصر مفهوم او معنی ده.

# د آخرت د اثبات دلائل

د قیامت په ارتباط ځو مسئلې مطرح دي:

- لومړی موضوع دا چي دا دنیا به پای ته رسېږي، دا ثابت عمر لري چي د خپل اجل په را رسېدو سره به د هغې دا موجود نظم ختمېږي.
- دوهمه موضوع دا چي انسانان به بېرته له قبرونو راپاځي، له هغه وروسته چي هډوکي ئې وراسته شوي او په زمکه کي تجزيه شوي، بيا به راژوندي کېږي.
- درېيمه موضوع دا چي هغه به د خپلو ټولو کړو وړو سزا، اجر او مکافات گوري.

د دغو دريو مسئلو د ثبوت لپاره قرآن عظيم الشأن گڼ شمېر دلائل وړاندي کړي:

کافرانو ته د دې خبري منل گران وو چي انسان دي ومري، د هغه وجود دي په خاورو کي تجزيه شي، هډوکي دې وراسته شي او هغه دي بېرته راژوندی شي، لکه چي قرآن د هغوی په اړه فرمايي:

وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ لَا يَبْعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُ ۚ بَلَىٰ وَعْدًا
عَلَيْهِ حَقًّا وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ٣٨ النحل:٣٨

**په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چې الله به هغه ځوک بیا راپورته نکړي چې ومري، داسې نه ده "لکه دوی چې گمان کوي" بلکې حقیقت دا دئ چې دا په الله باندې یوه حقه وعده ده "چې ټول هغه خلک به بېرته راژوندي کوي چې مړه شوي" خو اکثر خلک نه پوهېږي.**

**گورئ چې د آخرت منکرینو به ویل: دا هسې خبره ده چې انسان ومري بیا به راژوندی کېږي، دا ئې محال گڼله او په دې خبرې ئې کلکه لوړه کوله چې الله هغه کسان بېرته نه راژوندي کوي چې ومري. خو قرآن د دوی په ځواب کې فرمایي: دا د الله تعالی تغییر نه منونکې وعده ده، دا کار به د دې لپاره کوي چې:**

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّهُمْ كَانُوا۟
كَـٰذِبِينَ ٣٩ **النحل:٣٩**

**تر څو دوی ته هغه څه و اضح او څرگند کړي چې په هغه کې ئې اختلاف کاوو او تر څو کافران وپوهېږي چې دوی دروغجن وو.**

**یعني الله تعالی به دوی د دې لپاره بېرته راژوندي کوي چې په حقیقت ئې پوه کړي، هغه څه ورته روښانه کړي چې دوی به اختلاف پکې کولو او په دې وپوهیږي چې د دوی دا عقیده دروغجنه وه چې الله به خلک له هغه وروسته چې ومري نه راژوندیکوي. تاسو ته د قیامت راتگ او د**

انسانانو بیاژوندون گران او محال برېښي، په داسي حال کي چي د الله تعالی په وړاندي دومره آسان کار دئ چي د ده یوازي دا وینا کافي ده چي ورته ووايي: وشه او هغه ترسره شي.

إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَآ أَرَدْنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٤٠

النحل: ٤٠

کله چي د یوه څه اراده وکړو نو زموږ وینا یوازي دا وي چي ورته وایو: وشه! نو (هغه له ځنډه پرته) وشي.

د قدير خدای کار داسي دئ چي کله د کوم کار د کولو او د کوم څه د پیدا کولو اراده وکړي نو یوازي د یوه امر په صادرولو سره هغه کار ترسره شي، یوازي دومره وايي چي وشه، نو هغه کار له ځنډه پرته ترسره کېږي.

همدا راز د الاسراء د سورې په ٤٩، ٥٠ او ٥١ آیتونو کي راغلي:

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ٤٩ قُلْ كُونُواْ حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا ٥٠ أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِى صُدُورِكُمْ ۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ قُلِ ٱلَّذِى فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبًا ٥١

الاسراء: ٤٩-٥١

او وئې ويل: کله چي موږ هډوکي شو او وراسته شو، آیا موږ به بیا په یوه نوي خلقت او پیدایښت کي راپاڅېدونکي یو؟ ورته ووایه! تیږی شئ یا

اوسپنه او یا بل داسي څه چي ستاسو په سینو کي درته ستر برېښي، ژر ده چي وبه وايي: څوک مو بېرته راپیدا کوي؟ ورته ووایه! هغه ذات چي د لومړي ځل لپاره ئې تاسو راپیدا کړئ، خو ډېر ژر ده چي دوی به خپل سرونه تاته خوځوي او وايي به: دا "دوهم ځلي پیدایښت" به کله وي؟ ورته ووایه: شاید نږدې وي.

ګورئ چي دوی د بیا ژوندون په اړه څو پوښتني او اعتراضات لري: کله چي زموږ غوښي توی شي، په هډوکو بدل شو، د بدن ټول اجزا مو وراسته شي، بیا به څنګه په یوه نوي هیئت او جوړښت کي راژوندي کېږو؟ دا خبره ورته محال برېښي چي انسان دي په ورستو هډوکو بدل شي او هر څه دې تجزیه شي، بیا دي بېرته راژوندی شي!!" په ځواب کي ورته ویل شوي: تاسو خو د هغو سننو او ضوابطو مطابق مرئ چي الله تعالی وضع کړي، د همدې ضوابطو په حکم په هډوکو، ورستو اجزاوو او خاورو بدلېږی او له همدې خاوري پیدا شوي یئ، ولي له دغي خاوري بیا راپیدا کېدل درته محال برېښي؟!! کوم ذات چي تاسو د لومړي ځل لپاره له خاوري پیدا کړئ، هغه به مو بیا راپیدا کوي. د څه لپاره له خاوري بیا پیدایښت محال ګڼئ؟ حال دا چي تاسو له همدې خاوري پیدا شوي یاست، د همدې خاوري اجزاء دي چي په دانې او مېوی بدلېږي او له هغه نه د انسان نطفه جوړېږي.

همدا راز قرآن فرمايي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَـٰكُم مِّن

تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ٥ الحج:٥

اې خلکو! که د بیا ژوندون په اړه په شک کې وئ، نو مونږ خو له خاورې راپیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا له علقې، بیا له ژوول شوې یوې ټوټې غوښې چې انځور شوې او نه انځور شوې وي، ترڅو تاسو ته وښیو او څه چې وغواړو تر یوې نېټې ئې په رحم کې ځای په ځای کوو، بیا مو د ماشوم په څېر راباسو، بیا (همداسې ستاسو پالنه کوو) تر څو خپل قوت ته ورسېږئ او له تاسو نه ځینې ومري او ځیني مو تر ټولو لوېدلي عمر ته ورسېږي، هومره چې له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي او زمکه ګورې چې وچه کلکه ده، خو چې کله اوبه ورباندې نازل کړو، وخوځېږي، وده وکړي او هر راز سمسور بوټي راوټوکوي.

دلته د ټولو انسانانو د عادي او ورځني خلقت مختلفو پړاوونو ته اشاره شوې، چې له خاورې پیل او په مرګ ئې پای ته رسي، په بل ځای کې د خاورې او ختې سلاله او خلاصه د انسان د ترکیب ماده ګڼې او دا د قرآن یوه بله معجزه ده چې وایي انسان د زمکې له خلاصې راپیدا شوی، یعني د

ده په وجود کي د ټولو هغو شیانو بېلګه شته چي په زمکه کي شته، انسان اوس په دې پوه شوی چي په رښتیا د انسان په وجود کي ټول هغه عناصر شته چي په زمکي کي شته، د ده د جسم په ترکیب کي د اوسپني په څېر مواد هم شته، له نن نه سل کاله مخکي که چا دا خبره کړې وی چي د انسان په جسم کي د اوسپني په څېر د زمکي نور مواد هم شته، خدای خبر چي د ده په خبري به ئې څومره خندلي وو، خو علم نن په دې حقیقت پوه شوی او د انسان د جسم د ترکیب په اړه د قرآن همدا خبره کوي.

تا ته ولي له خاوري د انسان بیا راپیدا کېدا محال او ګران برېښي؟ مګر الله تعالی په لومړي سر کي انسان له خاوري نه دئ پیدا کړی؟ مګر دا اوس د هر انسان نطفه د خاورو له اجزاء نه جوړوي؟ د الله تعالی په اراده هغه دانه او مېوه چي له خاوري جوړه شوې د انسان په بدن کي د ده نطفه ترې جوړه شي، له نطفې نه بیا علقه "ټړل شوې وینه چي ژوري ته ورته وي" بیا د غوښي داسي ټوټه چي ژوول شوي ته ورته وي، چي د ځیني برخي تخلیق ئې بشپړ او مکمل شوی او د بلي برخي تخلیق ئی نامکمل وي، په هغي بڼې کي چي الله تعالی ورته غوره کړې تر معیني نېټې د مور په رحم کي پاته شي، بیا د ماشوم په توګه دنیا ته راشي، روزنه ئې کېږي، تر هغه چي د خپل قوت او ځوانۍ پړاو ته ورسېږي، ځیني په نیمایي لاري کي ومري، ځیني د عمر داسي پړاو ته ورسېږي چي خپله ټوله مخکنۍ پوهه له لاسه ورکړي، له علم او پوهي وروسته په څه نه پوهیږي، همدا راز زمکه ګورئ چي سپېره او وچه وي خو کله چي په هغې اوبه رانازلي شي

وخوځېږي، وده وکړي او هر راز غوره بوټي راشنه کړي.

دا څوک دئ چي له خاوري انسان پيدا کوي؟ په انسان باندي دا مختلف مراحل د چا په اراده رادرومي؟ انسان ترټولو مخلوقاتو افضل او اشرف دئ هر څه ده لره مسخر دي، خو هغه له داسي مراحلو نه طوعاً او کرهاً تېرېږي چي د ده خپله اراده په کي هيڅ اثر او اغېز نه لري. نه غواړي په زړښت محکوم شي، د بل د اوږو پېټی شي او د عمر هغي مرحلې ته ورسېږي چي د ماشوم په څېر شي، په څه نه پوهېږي، دا ئې زړه نه غواړي چي ژوند ئې پای ته ورسېږي او په مرگ محکوم شي، خو چاره نه لري، مخالفت نشي کولی، د يوه مجبور او محکوم موجود په توگه لدې مراحلو تېرېږي، ووایاست چي هغه څوک دئ چي انسان د ده د ارادې په وړاندي محکوم دئ؟ له هغه وروسته چي د خاورو له اجزاوو نه د ده نطفه جوړه شي، د مور په رحم کي تر معيني نېټې پاته کېږي، له مختلفو مراحلو تېرېږي او بيا په معينه نېټه د مور د رحم له تيارې او تنگي دنيا نه د پراخي دنيا غېږ ته راووځي، ضعيف او ناتوانه او د بل مرستي ته اړ، خو ورو ورو ئې روزنه کېږي، د قوت آخري معراج ته ورسېږي، خو له هغه ځايه ئې بېرته زوال پيل شي، د ضعف او ناتوانۍ په لور درومي، په زړښت محکوم شي، طاقتونه او استعدادونه ئې ختم شي او په پای کي ئې د مرگ فيصله وشي.

انسان په خپل ژوند کي "له خاوري پيدايښت"، "له يوې دنيا بلي ته تگ" ، "د پيدايښت نېټه" ، "دنيا ته د راوتلو نېټه"، "د مور په رحم کي د

پاته کېدو معينه موده" او "د مرگ نېټه او اجل" په خپلو سترگو گوري ، سره لدې څنگه او د څه لپاره له بيا ژوندون او لدې دنيا نه بلې ته له تگ نه انکار کوي!!؟

همدا راز د زمکي وچ او سپېره ډاگونه گورئ چي هيڅوک له هغه نه د ژوندي شي د راپيدا کېدو طمع نه لري، خو الله جل شأنه له آسمانه اوبه ورباندي ووروي، وخوځېږي، وده وکړي او هر راز غوره او ښاېسته نباتات راشنه کړي.

د دغو صحنو له ليدو سره سره څنگه د انسان بيا ژوندون ورته گران او محال برېښي؟!! هغه ذات چي د ونو ډکي او دانې، له هغه وروسته چي تر خاورو لاندي وراسته شي، بېرته را شنه کوي، انسان به هم له خپل قبر نه او له هغه وروسته چي هډوکي ئې وراسته شي بيا راژوندی کوي.

په دې مبارک آيت کي چي د انسان د پيدايښت د مختلفو مراحلو په اړه او له زمکي نه د نباتاتو د راشنه کېدو په اړه کوم بحث شوی، قرآن عظيم الشأن له هغه نه څو ستري مسئلې ثابتوي او دا نتائج ورباندي مرتب کوي:

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ ۝٦

دا د دې لپاره چي الله حق دئ، په الوهيت او شته والي کي ئې شک نشته، دا تحولات او بدلونونه، هم د انسان په ژوند کي او هم د دې عالم په غېږ کي ښيي او په دې شهادت ورکوي چي الله تعالی حق دئ، يو ذات شته چي د هغه په اراده دا تحولات او بدلونونه راځي.

وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ

او دا چي هغه مړي ژوندي کوي، په خپلو سترګو ګورئ چي انسان او نبات له خاورو راپيدا کوي.

وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ

او دا چي هغه په هرڅه قادر او برلاسی دئ

وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا

او دا چي قيامت هغه معين ساعت راتلونکی دئ، په هغه کي هيڅ شک نشته.

لکه څنګه چي ته په خپل ژوند کي ګورې چي په يوې معيني نېټې له يوې دنيا بلي دنيا ته انتقال کوې، د مرګ ساعت دي له مخکي ټاکل شوی، د پيداينښت نېټه دي تعيين شوې او کمال ته ستا د رسېدلو ګراف ټاکل شوی، چي بيا له دې ځايه ستا د زوال لړۍ پيل کېږي، همدا راز د دې دنيا د ختمېدو او د بلي د پيل کېدو لپاره اجل او ثابته نېټه ټاکل شوې.

وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن فِي ٱلۡقُبُورِ

او دا چي الله به هغه بېرته راژوندي کوي چي په قبرونو کي دي، لکه څنګه چي الله تعالی د وچي او سپېرې زمکي له زړه نه نباتات راشنه کوي، همدا راز به هغه چي په قبرونو کي دي بېرته راژوندي کړي.

ګورئ چي قرآن د انسان په ژوند کي او د دې عالم او طبيعت په دغو تحولاتو باندي استناد کوي او دا پنځه نتايج زموږ مخي ته ږدي: الله حق

دئ، هغه مړي ژوندي کوي، په هر کار قادر دئ، د قيامت معين ساعت راتلونکی دئ او الله جل شأنه به هغه چي په قبرونو کي دي راژوندي کوي.

## هر څه پېل او پای لري:

کافران دا دنيا ابدي او تلپاتې ګڼي، حال دا چي د عالم هر څه پای لري، په خپلو سترګو ګورو چي هر شی پېل او پای لري، دا دنيا د داسي اشياوو مجموعه ده چي ټول پيل او پای لري، هر يوه ته عمر ټاکل شوی، هر څه ټاکلی عمر لري، د عمر په پای کي په زوال محکومېږي، رانسکورېږي او ختمېږي، ژوند ئې شروع شي، کمال ته ورسېږي، بېرته ئې زوال پېل شي، تر يوې معيني نقطې او نېټې مخکي درومي، خو له هغه نه وروسته بېرته د مرګ او زوال په لوري خوځي، لکه چي قرآن فرمايي:

وَمَن نُّعَمِّرۡهُ نُنَكِّسۡهُ فِي ٱلۡخَلۡقِۚ أَفَلَا يَعۡقِلُونَ ٦٨ يس:٦٨

چاته چي عمر ورکوو بېرته ئې په خلقت کي رانسکوروو، آيا تعقل نه کوي؟!

ګورو چي هر عمر لرونکی په زوال او زړښت محکومېږي، له يوې نېټې ئې ژوند پيل شي، د کمال خاص پړاو ته ورسېږي، د عمر په تېرېدو سره د زوال په لور درومي او په پای کي مري.

لکه څنګه چي قرآن وايي د دې عالم هر مخلوق خاص عمر لري، د عمر په پای کي زوال مومي، علم همدا خبره کوي، ساينس پوهان همدا خبره کوي، وايي: هر څه زړېږي او زوال مومي، د کهولت عامه قاعده چي

وايي: هر څه په زوړوالي او فنا باندي محکوم دئ، نن دا د ساينسي علومو يو عام او اساسي بنسټ دئ، خلقو ډېر شيان ابدي او تلپاتې ګڼل، خو نن علم په دې پوهېږي چي د کهولت قاعده يوه عامه حاکمه قاعده ده، د عالم هر څه د دې په وړاندي محکوم دي، هر څه د کهولت او زوړوالي په لور درومي، قرآن عظيم الشأن فرمايي: لکه څنګه چي د فرد لپاره اجل ټاکل شوی او د قومونو لپاره اجل ټاکل شوی، همدا راز د عالم د هر توکي لپاره اجل ټاکل شوی.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ٣٤ الاعراف:٣٤

او هر امت ته اجل ټاکل شوی، نو کله چي د دوی اجل راورسېږي نه به يوه شېبه وروسته شي او نه به مخکي شي.

الله تعالی د قومونو لپاره هم اجل ټاکلی، د امتونو د راپيدا کېدو او زوال لپاره هم نېټه ټاکل شوې، له خپلي معيني نېټې نه، نه رامخته کېدی شي او نه وروسته کېدی شي. همدا راز د روم د سورې له ٧ تر ١١ آيت پوري دې مطلب ته په دې الفاظو اشاره شوې:

يَعْلَمُونَ ظَٰهِرًا مِّنَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ ٱلْءَاخِرَةِ هُمْ غَٰفِلُونَ ٧ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِم ۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ

لَكَٰفِرُونَ ٨

هغوی د دنیایي ژوند په ظواهرو پوهېږي خو له آخرته غافل دي، آیا له ځان سره ئې په دې فکر نه دئ کړی چي الله آسمانونه او زمکه او څه چي د هغوی په منځ کي دي، نه دي پیدا کړي مگر په حقه او له ټاکلې نېټې سره او یقیناً چي اکثر د خلکو له خپل رب سره د ملاقات او مخامخ کېدو په اړه کافران دي

یعني فقط د دنیوي ژوند په ظواهرو پوهېږي، اما له آخرته غافل دي، دې ته پام نه کوي چي الله تعالی هر څه سم او په حقه پیدا کړي، په دې عالم کي عبث، بېهوده، اضافه او کم شی نشي په گوته کولی، د هر څه لپاره اجل ټاکل شوی، دا د اجل قاعده عامه ده، هر څه احتواء کوي، آیا دې ته پام نه کوي چي الله جل شانه د زمکي او آسمانونو د هر څه لپاره اجل ټاکلی او هغه ئې په حقه پیدا کړي،تاسو گورئ چي د هر څه پېدایښت له هیڅ نه پیل شي، ورو ورو وده وکړي، خو د کمال او ارتقاء لپاره ئې معین حد ټاکل شوی، د کمال په آخري پړاو کي ئې د زوال لړۍ پیل شي او په پای کي په مرگ محکوم شي، د پیدایښت او مرگ گراف ئې ثابت او ټاکلی حد او معینه موده او نېټه لري. گورئ چي هر څه په حق او له اجل مسما سره پیدا شوي. خو د خلکو ډېری په دې حقایقو نه پوهېږي.

أَوَ لَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ وَأَثَارُواْ ٱلۡأَرۡضَ وَعَمَرُوهَآ أَكۡثَرَ مِمَّا

عَمَرُوهَا وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٩

آيا په زمکه کي ونه ګرځېدل تر څو وګوري چي د هغو کسانو عاقبت څنګه وو چي تر دوی د مخه وو، "هغه ظالم او مجرم قومونه چي الله مواخذه او هلاک کړي" په داسي حال کي چي تر دوی قوي او زورور ول "او په تمدن کي داسي مخکي ول چي" زمکه ئې تر دوی زياته وسپړله او زياته ئې ودانه کړه، (د زمکي په سپړلو او آبادولو کي تر دوی ډېر مخکي ول، خو د ظلم او تېري په وجه له الهي مواخذې سره مخامخ شول" وګورئ چي د دوی پايله او عاقبت څنګه وو" همغه چي پېغبران له بيناتو سره ورغلل "خو د پيغمبرانو د دعوت مخالفت ئې وکړ او په الهي عذاب اخته شول" الله پر دوی ظلم نه دئ کړی، بلکي دوی په خپلو ځانونو ظلم کاوو.

ثُمَّ كَانَ عَٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ ٱلسُّوٓأَىٰٓ أَن كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ بِهَا يَسۡتَهۡزِءُونَ ١٠ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ١١

الروم: ١٠-١١

بيا د هغو کسانو عاقبت او پايله بده وه چي بدي ئې وکړه، په دې خاطر چي د الله آيتونه ئې تکذيب کړل او استهزاء ئې پرې کوله.

دا څوک دئ چي ظالمان مواخذه کوي؟ تاريخ ته رجوع وکړئ د هغو متمدنو قومونو انجام وګورئ چي که څه هم په تمدن او قوت کي تر موجوده قومونو ډېر پرمخ تللي ول؛ خو چي د پيغمبرانو د دعوت مخالفت

ئې کړی، وګورئ چي الله جل شأنه څنګه مواخذه کړي، له کوم عاقبت سره مخامخ شوي؟! آیا د دوی دا تباهي، تعذیب او هلاکت د دې دلیل نه دئ چي دلته داسي څوک شته چي له هر چا سره محاسبه کوي او عملونو ته ئې بدله ورکوي؟ همدا ذات به قیامت قائموي، همدا ذات هغه دئ چي پیدایښت ئې پیل کړی او له پای ته رسېدو وروسته به ئې بیا اعاده کوي، دا همغه ذات دئ چي ټول به د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ.

## د عملونو مکافات او مجازات:

قرآن عظیم الشأن د آخرت د ثبوت لپاره د عملونو په مکافات او مجازات استدلال کوي. کافران له دې خبري انکار کوي چي په دنیا یا په آخرت کي دي د عملونو لپاره د مکافات او مجازات سلسله وي او یا دا چي انسان دي له مرګه وروسته د دې لپاره بېرته راژوندی کړی شي چي د خپلو عملونو مکافات او مجازات وګوري!! قرآن عظیم الشأن د دې خبري د اثبات لپاره ګڼ شمېر داسي محسوس او مشهود دلائل وړاندي کوي چي انسان ئې هره ورځ په خپلو سترګو ګوري:

د التین په مختصري او جامع سوره کي د دغه مطلب په اړه مور ته دا لارښوونه کوي:

وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيۡتُونِ ١ وَطُورِ سِينِينَ ٢ وَهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ٱلۡأَمِينِ ٣ لَقَدۡ
خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ ٤ ثُمَّ رَدَدۡنَٰهُ أَسۡفَلَ سَٰفِلِينَ ٥ إِلَّا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ٦ فَمَا

يُكَذِّبُكَ بَعۡدُ بِٱلدِّينِ ٧ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَحۡكَمِ ٱلۡحَٰكِمِينَ ٨

**التين: ١-٨**

پدې انځر، پدې زيتون قسم. ٢- په طور سينين قسم. ٣- پدغه خوندي ښار قسم. ٤- بې شکه چې انسان مو په ډېر غوره جوړښت کې پيدا کړی دئ. ٥- بيا مو رد کړ دی تر ټولو ټيټو ټيټ ته. ٦- مگر هغه چې ايمان ئې راوړی او نېک عملونه ئې کړي، نو دوی لره به بدله تلپاتې وي ٧- نو ته څه شي د دين درواغ گڼلو ته اړ کړې؟ ٨- مگر خدای، احکم الحاکمين نه دئ؟

دلته په لومړيو دوو آيتونو کې په دوو مېوو لوړه شوې او په وروستيو آيتونو کې په دوو ځايونو او د قسمونوپه پای کې ويل شوي چې:

بې شکه چې انسان مو تر ټولو غوره جوړښت کې پيدا کړی دئ.

دا د قسم ځواب دئ، په دې څلورو شيانو د دې لپاره لوړه شوې چې ثابته کړي انسان په غوره جوړښت او تقويم کې پيدا شوی، راشئ وگورو چې دا څلور لومړی، خبري څنگه په دې شهادت ورکوي چې انسان په ډېر غوره تقويم کې پيدا شوی.

پدې آيتونو کې د (طور سينين) او(بلدالامين) مفهوم کاملاً واضح او روښانه دئ او قرآن په خپله د هغوی وضاحت کړی، طور سينين د موسی عليه السلام مبعث دئ او بلد الامين، مکه مکرمه چې د اسمعيل عليه السلام او محمدعليه السلام مبعث دئ او په هغې کې د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاس کعبه بنا شوې. که د قرآن د نورو آيتونو په رڼا کې غور وکړو نو دا خبره راته جوتېږي چې د دغو دواړو ترمنځ يو ځانگړی

شباهت او مناسبت شته او هغه دا چي دواړه د پیغمبرانو مبعث او د وحي مهبط دي، په یوه کي موسی علیه السلام په پیغمبرۍ مبعوث او د فرعون په مقابله مأمور شو او بل ئې د ابراهیم، اسمعیل او محمد علیهم السلام د بعثت او دعوت غېږ. له ځواب سره د دغو دواړو قسمونو ارتباط هم ډېر څرگند او واضح دئ او هغه دا چي دا دواړه ځایونه چي د نړۍ ستر ستر شخصیتونه ئې په غېږ کي پاتې شوي، پدې خبري شهادت ورکوي چي واقعاً انسان په ډېر غوره جوړښت کي پیدا شوی او ډېر ستر ستر استعدادونه پکي ایښودل شوي، د دغه اوچت او لوړ جوړښت څو څرگندي بېلگي ئې دغه جلیل القدره پیغمبران دي، که په انسان کي دا اوچت استعدادونه نه وی نو د پیغمبرانو په څېر عظیم او جلیل القدره شخصیتونه به پدوی کي نه راپیدا کېدل. مگر نه گورئ چي دغه جلیل القدر پیغمبران د عظمت او لوړوالي کوم کوم مقام ته رسېدلي، هر یوه د سترو انقلابونو لارښوونه کړې، د دوی په لاس ظالم استبدادي نظامونه نسکور شوي، د عدالت او آزادۍ ډیوه ئې بله کړې، د دې ډیوې په رڼا کي مظلومو او محرومو انسانانو ته د ډاډمن او سرلوړي ژوند شرایط برابر شوي، په جهل وهلې تولني کي د روڼ مشعل په څېر ځلېدلي، توري تیارې شپې ئې روښانه کړې، آیا همدا کافي نده چي ووایو: واقعاً انسان په ډېر غوره تقویم کي پیدا شوی او په هغه کي ستر او عظیم استعدادونه ایښودل شوي؟ خو له ځواب سره د دوو لومړنیو

قسمونو په ارتباط پوهېدل غور غواړي، پدې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

د یوه بلیغ کلام یوه مهمه ځانګړتیا او خصوصیت دا وي چې د بېلو بېلو برخو ترمنځ ئې تړاو، نظم او تنسیق وي، د دغه اصل له مخې باید دوه لومړي قسمونه له دوو وروستیو سره شباهت ولري. که دوه وروستي قسمونه خاصو ځایونو ته اشاره کوي، پکار دا ده چې دوه لومړي قسمونه هم دې ته ورته ځایونو ته اشاره وکړي. خو باید وګورو چې په (التین) او (الزیتون) کې د دې امکان او احتمال شته که نه؟ ځواب دا دئ چې هو؛ په څو دلیله: لومړی دا چې د کلام له فحوی معلومېږي چې په لومړي آیت کې (البلد) مقدر دئ، د درېیم آیت له (و هذ البلد الامین) نه همدا خبره معلومېږي، یعني په لومړي آیت کې د انځر او زیتون په سیمو لوړه شوې. دوهم دا چې د دې سورې د نازلېدو په وخت کې فلسطین د اعلی زیتون په درلودو مشهور وو او شام د اعلی انځر په درلودو، چې چا به د زیتون نوم واخیست نو فلسطین به ئې مخې ته راغی او چې د انځر نوم به ئې واخیست نو شام به ئې ذهن ته راغی، دا داسي وګڼئ لکه څوک چې په پاکستان کې د خربوزه نوم واخلي نو فوراً ئې افغانستان ذهن ته راشي او که په افغانستان کې د ام یا کېلې نوم واخلي نو سمدلاسه ئې پاکستان سترګو ته ودرېږي، دا ډېره عامه ده چې اکثراً ځایونه د خپلو خاصو مېوو په نامه یادېږي. عربانو معمولاً په خپلو محاوراتو کې مختلف ټاټوبي د خپلو ځانګړو او خاصو مېوو په نامه یادول، که به چا د څو ملکونو په څنګ کې د

زيتون او انځر نوم اخيستو نو لدې نه ئې د شام او فلسطين معنى اخيستله.
دريم دا چې دغو دواړو ځايونو ته د قرآن په څو آيتونو كې اشاره شوې او د طورسينين او بلد الامين په څېر د پيغمبرانو د بعثت مبارک ټاټوبې ګڼل شوي. څلورم دا چې كه د ځينو مفسرينو د رأيي مطابق (التين) او (الزيتون) فقط مېوه وګڼو او په خوا كې ئې (البلد) مقدر ونه بولو نو له يوې خوا د دغو څلورو قسمونو ترمنځ شباهت او يووالى نشو په ګوته كولى او له بلې خوا د قسمونو او ځواب ترمنځ تړاو او ارتباط نشو ښودلى. شام او فلسطين چې دلته په (التين) او (الزيتون) سره ياد شوي، له (طور سينين) او (البلد الامين) سره لدې لحاظه شباهت لري چې هلته د سليمان، داؤد، عيسى او ابراهيم عليهم السلام په څېر پيغمبران مبعوث شوي. او پدې سره د ټولو قسمونو ژور او دقيق ارتباط له ځواب سره څرګندېږي. يعني هغه باعظمته او ستر ستر شخصيتونه چې پدغو څلورو سيمو: شام، فلسطين، طور سينين او البلد الامين كې راولاړ شوي، تلپاتې حماسې ئې جوړې كړې او د ډېر لوړ او اوچت انساني شخصيت بېلګې ئې وړاندې كړې، پدې شهادت وركوي چې الله تعالى په انسان كې څومره لوړ استعدادونه ايښي او په څومره غوره او احسن تقويم او جوړښت كې ئې پيدا كړى!!

خو همدغه انسان، له همدې لوړ او ښاېسته جوړښت سره او له ټولو هغو لوړو او غوره استعدادونو سره چې د ده په فطرت كې ايښودل شوي، د ايمان له سمې لارې د كږېدو او انحراف په نتيجه كې او د كفر د لارې په غوره كولو سره، د دنائت، رذالت، جهل او وحشت داسې ژورې

کندي ته پرېوځي چي تر هر ټيټ ټيټ شي، تر هر ځيرونکي حيوانه ډېر ځيرونکی، بې رحمه او وحشي شي، نه ئې په ظلم کي سيال پيدا کېږي او نه په جهل، بې رحمۍ او قساوت کي او عملاً گورو چي له دې سقوط او هبوط نه هغه کسان ژغورل شوي چي د ايمان او صالح عمل لار ئې غوره کړې او په دې لار کي ئې د خپلو نېکو عملونو تلپاتې او نه شلېدونکې غوره او نېکه بدله ترلاسه کړې، عزت او سرلوړۍ ته رسېدلي. د يوه وېرووونکي او (مدهش سقوط) او د بل (عزت او لوړ تگ) ښيي چي دلته زمونږ په نړۍ کي د مکافات او مجازات لړۍ شته، صالح هم د خپلو نېکو عملونو بدله تر لاسه کوي او طالح هم د خپلو بدو کړو وړو سزا گوري، يو ئې فلاح، بريا او نجات مومي او بل ئې د ذلت او سپکاوي او نامرادۍ په ژوري کندي کي پرېوځي، هره شېبه عملونو ته د مناسبي سزا ورکولو شاهد يو.

نو د عملونو د مکافات او مجازات د عملي بېلگو له مسلسل ليدو سره سره، څنگه او په کوم دليل له (يوم الدين) نه انکارکوې؟! او ولي له انسان سره حساب و کتاب او محاسبه دروغ گڼې؟ مگر ستا رب (احکم الحاکمين) نه دئ؟ مگر ودي نه ليدل چي په دغو څلورو سيمو کي، د پيغمبرانو د بعثت سيمو کي، د حق او باطل ترمنځ د پرله پسې نښتو په دغو څلورو ميدانونو کي، په وار وار د احکم الحاکمين رب پرېکړې، د حق د بريا او د باطل د ماتې په بڼه کي تکرار شوې؟!! حق پالونکي غالب شوي او باطل پالونکي مغلوب شوي؟! که څه هم د نزاع او نښتو په سر کي حق پالونکي ډېر کمزوري او ضعيف او د باطل سنگر ډېر مضبوط او مجهز برېښېدو او

هیچا ئې د ماتې او زوال تصور نه شو کولی!! که دلته او په دنیا کي د مکافات او مجازات لړۍ نه وای نو مسلط، مجهز او په ظاهر کي ډېر مضبوط او ځواکمن ظالمان باید تل برلاسي او غالب او پر ټولني د تل لپاره مسلط پاته کېدی او مستضعفین به هیڅکله د دوی له منګولو نه شو وتلی او په دې نابرابري نزاع او جګړي کي به ئې هیڅکله بریا نه په برخه کېده!! او دا مجهز ځواکونه به هیڅکله د دوی په لاسونو نه رانسکورېدل او د زمکي خلافت به ئې نه په برخه کېدو، د ظالمانو مواخذه او د شر او فساد پر ځواکونو د الهي عذاب راپرېوتل دا ښیي چي الله تعالی د دې عالم (حکم او حاکم) دی او د احکم الحاکمین رب پرېکړي په کي نافذې او حاکمي دي.

ځینو مفسرینو ویلي چي له اسفل السافلین نه مراد دوزخ دئ، خو دا رأیه په دې دلیل کمزورې ده چي دوزخ ته د انسان تګ د مخکنیو قسمونو د ځواب په ضمن کي نشي راتلی، ځه د قیامت او دوزخ منکرین په داسي استدلال نشي قانع کېدی، په دې اړه د هغو مفسرینو رأیه دقیقه ده چي وایي له اسفل السافلین نه مراد هغه تر ټولو بد حالت دئ چي د کفر او انحراف په نتیجه کي د انسان په برخه کېږي، کله چي هغه بې لاري شي او د پیغمبرانو د دعوت مخالفت وکړي، نو تر حیوانه هم زیات بد شي، تر حیوانه زیات وحشي، سفاک او بې رحمه شي، تر هغه نه زیات جاهل او ناپوه شي، داسي چي په څه نه پوهېږي، دا هغه حالت دئ چي هر څوک ئې په خپلو سترګو ګوري، دا حالت د هر کافر په وړاندي د یوه مضبوط دلیل

په توګه اینسودی شو، قرآن د دوی په اړه فرمايي:

... لَهُمۡ قُلُوبٌ لَّا يَفۡقَهُونَ بِهَا وَلَهُمۡ أَعۡيُنٌ لَّا يُبۡصِرُونَ بِهَا وَلَهُمۡ ءَاذَانٌ لَّا يَسۡمَعُونَ بِهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ١٧٩ الاعراف: ١٧٩

... دوی زړونه لري خو پرې پوهېدی نشي، سترګي لري خو پرې لیدی نشي، غوږونه لري خو پرې اورېدی نشي، دوی د څارویو په څېر دي بلکي لازیات لارورکي، همدا دوی غافل او بې خبره دي.

د قرآن د ګڼ شمېر آیتونو په ترڅ کي د دوی په اړه راغلي چي له تعقل نه محروم دي، په څه نه پوهېږي، بې شعوره دي.. "فَهُمْ لا يَعْقِلُونَ" "فَهُمْ لا يَفْقَهُونَ" "وَ هُمْ لا يَشعُرُونَ"

په حقیقت کي دغه حالت اسفل السافلین دئ. خو څوک په دې اسفل السافلین کي له لوېدو ژغورل شوی؟ قرآن فرمايي:

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ٦

مګر هغه چي ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، نو دوی لره غیر منقطع "دائمي، مسلسل او تلپاته" اجر دئ.

په داسي حال کي چي ته په انساني ټولني کي د شخصیتونو دا دوه بېلګي ګورې، چي یو د پیغمبرانو له خط نه د انحراف په وجه په اسفل السافلین کي پرېوځي، تر حیوانه زیات بد شي، وحشي او بې رحمه شي او بل ګورې چي هغه دخپلو نېکو عملونو اجر په مسلسل او غیر منقطع توګه

ترلاسه کوي، ته ګورې چې په هري اجتماع کي متقي انسان محترم ګڼل کېږي، چې څوک په خپل عهد وفا کوي، خلک د احترام په سترګه ورته ګوري، چې په بل چا ظلم او تېری نه کوي، خلک د هغه احترام کوي او ګورې چې بدي او بدکاري تل او په انساني ټولني کي منکر او کرکجن ګڼل کېږي، خلک ترې نفرت او انزجار لري، کومه اجتماع ده چې هلته د غله احترام وشي؟ چیري د یوه حریص انسان قدر کېږي؟ کومه ټولنه داسي ګورې چې هلته دي خلک د یوه ټګمار، دوکه مار، دروغجن، بې وفا، بد عهده انسان احترام وکړي؟ دا چې ته په انساني ټولنه کي د شخصیتونو دا دوه بېلګې ګورې چې یو د پیغمبرانو له خط نه د انحراف په وجه په اسفل السافلین کي سقوط کوي، په اجتماع کي ئې امن، ډاډ او اطمئنان ختم شي، هلته ظلم او استبداد وي، هلته خلک له خپلو حقوقو نه محروم وي او هلته اختناق او وحشت وي او بلي خوا ته ګورې چې چا ایمان راوړی او صالح عمل ئې کړی هغه په غیر منقطع او په مستمر ډول د خپلو عملونو اجر تر لاسه کوي او خلک ګورې چې یوه ته په ښه سترګه ګوري او بل ته په بده سترګه، یو د ستاینې وړ ګڼي او بل د رټلو او شړلو وړ، له خپل لوري هر یوه ته مناسبه بدله ورکوي، نو سره له دې څه شي د یوم الدین په اړه دوکه کړی یې او هغه تکذیبوې؟!

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعۡدُ بِٱلدِّينِ ٧

د دی واقعیتونو له لیدو سره سره، هغه څه دي چې ته ئې د دین په نسبت غولولی یې او هغه تکذیبوې، څه شي دې ته اړ کړی یې چې د

مکافات او مجازات سلسله تکذیب کړي؟ حال دا چي ته په خپلو سترګو په انساني ټولنه کي د انسان په عملونو د دوو ډولو نتائجو مرتب کېدا ګوري: یو منحرف شي او په نتیجه کي ئې په اسفل السافلین کي سقوط وکړي، بل ایمان راوړي اود صالح عمل لار غوره کړي په غیرمنقطع، مسلسل او مستمر ډول د خپل عمل غوره اجر تر لاسه کوي، په دوه ډوله عملونو د دوه ډوله نتائجو مرتب کېدل په سترګو ګورې، نو څه شي دوکه کړی یې چي یوم الدین (د مکافات او مجازات ورځ) تکذیب کړې؟ آیا دا پخپله په دې خبري شهادت نه ورکوي چي دلته د مکافات اومجازات سلسله جاري ده؟ آیا د بېلو بېلو عملونو بېل بېل نتائج په دې شهادت نه ورکوي چي دلته داسي یو ذات شته چي د مکافات او مجازات پرېکړه د ده له لوري ده؟ ته چي قضاوت کوې، ښه ته ښه وایې او بد ته بد، نو آیا ستا رب به په دې صفت متصف نه وي؟

أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَحۡكَمِ ٱلۡحَٰكِمِينَ ۸

مګر الله احکم الحاکمین نه دی؟ آیا ستا پالونکی رب ترټولو غوره، حَکَم او قضاوت کوونکی نه دئ؟ دغه رب به د دین "مکافات او مجازات" ورځ قائموي، چي انسان ته د خپلو عملونو مکمل او بشپړ اجر ورکړی شي. په عملونو د اجر او بدلې له مرتب کېدو نه معلومېږي چي الله جل شأنه تر ټولو غوره حَکَم دی.

دا دئ ګورئ چي قرآن عظیم الشأن په همدې خبري چي د انسان په ژوند کي د مکافات او مجازات لړۍ عملاً جاري ده، استناد کوي او دا

حقیقت ثابتوي چي الله به د دین ورځ "یوم الدین" قائموي، چي هلته به انسان ته د خپلو عملونو پوره او کامل اجر او جزا ورکوي، دا ځکه چي الله "احکم الحاکمین" دئ.

تاسو به حتماً دې خبري ته توجه لرئ چي که انسان ته پرته له دې چي د هغه د اعمالو نتائج په نظر کي ونیولی شي، د ده د عمل جزا ورکړی شي، عدالت نه تأمین کېږي، ځکه یو عمل یوازي په همغه معینه لحظه کي چي تر سره شوی پای ته نه رسېږي بلکي د هغه اثرات تر قیامته پوري دوام کوي، دا داسي وګڼئ لکه په یو بحر کي چي ډوک یوه ډبره واچوي، له دې ډبري نه په اوبو کي راپیدا شوي څپې او امواج، یوازي په یوه محدوده دائره کي نه پاتې کېږي، بلکي دائره ئې ورو ورو وسیع کېږي او خورېږي، همدا راز هر عمل خاص اثرات او نتائج لري، اغېز ئې په یوې محدودي دائرې کي نه پاته کېږي، ستا له یوه نېک عمل نه بل ډوک متأثره کېږي، ستا لاره غوره کوي او له هغه نه بل متأثره کېږي، دا لړۍ تر قیامته دوام کوي، همدا راز ستا له یوه بد عمل نه بل ډوک متأثره شوی دئ، ستا عمل هغه دې بدکار ته تشویق کړی، تا د هغه دحیا پرده څیرلې او هغه دي دې لوري ته ترغیب کړی چي ستا په څېر بدعمل وکړي، له هغه نه بل او له هغه نه بل متأثره شوی، دا سلسله دوام کوي. په دې خاطر چي انسان د خپل نېک او بد عمل پوره او کامل اجر تر لاسه کړي باید د قیامت ورځ قائمه شي، هلته د عملونو سلسله ختمه شي او بیا انسان ته د خپل عمل داسي بشپړ اجر او بدله ورکړی شي چي د هغه د عمل اثرات هم په نظر

کي نیول شوی وي. په دې خاطر چي الله احکم الحاکمین دئ د قیامت ورځ به راولي، تر څو انسان ته د خپل عمل پوره او کامل اجر ورکړی شی.

ته چي په دنیا کي د بدلې بېلګي ګورې، د مکافات او مجازات سلسله ګورې، دا بېلګي په خپله د دې لپاره کافي دي چي په دې خبري باور او ایمان ولرې چي د قیامت ورځ به راځي او هلته به انسان ته د خپلو عملونو پوره او کامل مکافات او مجازات ورکول کېږي، د دې لپاره چي الله احکم الحاکمین دئ.

همدا راز قرآن عظیم الشأن په یوې بلي مختصري سورې کي دې ته ورته ا ستدلال کوي:

وَٱلۡعَصۡرِ ١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ٢ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ٣ العصر: ١-٣

١- قسم په زمان. ٢- یقیناً چي په زیان کي دئ انسان. ٣- مګر هغه چي ایمان ئې راوړی وي او صالح اعمال ئې کړي او سپارښتنه ئې د حق یوه بل ته کړې او یوه بل ته ئې د صبر توصیه کړې.

په لومړي آیت کي په (العصر) لوړه شوې:

او ورپسې ویل شوي: یقیناً چي انسان په زیان کي دئ، مګر هغه چي ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي او یوه بل ته ئې د حق سپارښتنه کړې او یوه بل ته ئې د صبر توصیه کړې.

د قرآن د نورو قسمونو په څېر دلته هم په یوه څرګند او د هر مخاطب مخي ته پروت حقیقت باندي لوړه شوې، په (العصر) یعني زمانه،

هره زمانه او د زمانې هر پړاو د دغي ادعا د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندي شوی چي انسان له ایمان، صالح عمل، په حق سپارښتنه او په صبر له سپارښتني پرته له زیان او خسران سره مخامخ کېږي. که تاریخ ته رجوع وکړئ، هره پاڼه ئې وڅېړئ او هر پړاو ته ئې ځیر شئ؛ په څرګنده به وګورئ چي تل د ایمان هغو خاوندانو بریا ترلاسه کړې او له تباهۍ ژغورل شوي چي عملونه ئې صالح وو، پر حق ولاړ وو او یوه بل ته ئې د حق سپارښتنه کړې، په دې لار کي ئې صبر کړی او یوه بل ته ئې د صبر توصیه کړې. راشئ وګورئ د هغو خلکو پایله څه وه چي د کفر او له حق نه د انکار لار ئې غوره کړې، بد اخلاقه او بد عمله وو، ظلم او تېری ئې کړی، فساد ته ئې لمن وهلې، نه ئې په خپله حق او حقیقت ته سر ټیټ کړی، نه ئې بل حق ته هڅولی، نه ئې په خپل جائز حق قناعت کړی، نه ئې د بل د حق پروا کړې، نه ئې په خپله صبر درلود او نه ئې بل ته د صبر سپارښتنه کړې؟ تاریخ د دغو خلکو په اړه څه وایي؟ د دوی پایله او عاقبت ئې څنګه معرفي کړی؟ کوم ولسونه چي له تباهۍ، ذلت او سپکاوي سره مخامخ شوي، خصوصیات او ځانګړتیاوې ئې څه وې؟ او هغه چي فلاح او بریا ئې په برخه شوې، د شرف او عزت لوړو مدارجو ته رسېدلي، د زمکي خلافت او د ولسونو قیادت او زعامت ئې ترلاسه کړی، څوک وو او مواصفات ئې کوم؟ آیا دغه سرلوړي او عزتمن قومونه او دا د تاریخ معروف او مشهور شخصیتونه چي هرڅوک ئې په نامه افتخار کوي، هغوی ته ځان منسوبوي، د هغوی نومونه پر خپل ځان او اولاد ږدي او د هغوی په لار د تلو هڅه

کوي، له دغو صفاتو پرته ئې بل څه درلودل؟ او هغه کسان چې له دغو صفاتو محروم وو او د دغو صفاتو له خاوندانو سره ئې دښمني ته ملا تړلې وه، که څه هم زور ځواک ئې درلود، وسایل او امکانات ئې په واک کې وو، لښکري او فوځونه ئې درلودل او په لویو لویو ملکونو ئې حکومت کاوو، له کوم عاقبت سره مخامخ شوي او نن خلک او تاریخ د دوی په اړه څه قضاوت کوي؟ د ابوجهل، فرعون او نمرود په اړه څه وايي؟ د عیسی علیه السلام د مخالفینو په اړه څه قضاوت کوي؟

متأسفانه ځینو دلته هم اشتباه کړې او (العصر) ئې یا د (صلوة العصر: د مازدیگر لمونځ) یا (د مازدیگر وخت) او یا د پیغمبر علیه السلام د زمانې په معنا نیولی، حال دا چې (العصر) عام دئ، په هره زمانه ئې اطلاق کېږي او داسې هیڅ دلیل نشته چې خاص وخت او زمانه په گوته کړي. دا ضعیفه توجیه د قسم او ځواب ترمنځ هیڅ ارتباط نه شي ښودلی او په هیڅ تعبیر او تأویل سره دا نه شي ثابتولی چې (العصر) د انسان په خسران او زیان شهادت ورکوي! د (العصر) صیغه عامه ده، سمه نه ده چې هغه (خاص) کړو، د قسم او ځواب ترمنځ ارتباط یوازې په هغه صورت کې راڅرگندېږي چې صیغه په خپل حال (عام) پرېږدو او د زمانې هر پړاو او د تاریخ هره مرحله ئې وگڼو، همدا زمانه او ټول لوړ ژور پړاوونه ئې شهادت ورکوي چې انسان تل د بې ایمانۍ، بدو کړو وړو، په حق نه ودرېدو او یوه بل ته د هغه سپارښتنه نه کولو، بې صبري او یوه بل ته د صبر د سپارښتنې نه کولو سره ئې تاوان کړی او له تباهۍ سره مخامخ شوی.

همدا راز قرآن عظیم الشأن د انعام سورې په ٤٥ آیت کې دې مطلب ته اشاره کوي او فرمایي:

فَقُطِعَ دَابِرُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ۚ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ

نو د هغه قوم جرړې قطع شوې چې ظلم ئې وکړ. او ستاینه ټوله هغه الله لره ده چې د عالمونو رب دئ."هغه الله چې په دې عالم کې د رب په توګه تصرف کوي او د ظالمانو جرړې قطع کوي، ټوله ستاینه هغه لره ده"

ته عملاً ګورې چا چې ظلم کړی، جرړې ئې قطع شوې او له شوم او بد عاقبت او پایلې سره مخامخ شوی، ته ما ته وښیه کوم ظالم دئ چې د ظلم له بدو پایلو سره نه وي مخامخ شوی؟ دا چې په دې دنیا کې ظالمان مواخذه کېږي او د الله عذاب پر دوی نازلېږي او له دوی سره حساب و کتاب او د دوی نیونه شدیده او سخته وي، تخت او تاج ئې نسکور شي، هیڅوک د دوی مرستې ته نشي دانګلی او هیڅوک ئې له شوم عاقبت نه نشي خلاصولی، عملاً ګورئ چې: فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَموا، د ظالمانو د جرړو له قطع کېدو نه دا ثابتېږي چې دلته له هر چا سره محاسبه روانه ده، دلته داسې څوک شته چې له ظالم نه پوښتنه کوي، د مظلوم پوښتنه کوي، له ظالم سره حساب کوي، له هغه نه انتقام اخلي او د هغه جرړې قطع کوي. که دلته د مکافات او مجازات سلسله نه وی او دلته الله د رب په توګه تصرف نه کولی، نو هغه څوک چې ټول وسائل او امکانات ئې په خدمت کې وي، ټول شرائط د هغوی په ګټه وي، باید د هغوی اقتدار د تل لپاره ادامه کولی، باید په دې کې تبدیلي نه راتلی، په هیڅ صورت کې باید

په حاکمو اجتماعي نظامونو کي انقلاب او بدلون نه راتلی. اما دا چي ته ګورې د ظالمو حاکمانو پایله وخیمه او دردناکه ده او د هغوی جرړې قطع کېږي، دا په خپله ثابتوي چي دلته د مکافات او مجازات سلسله روانه ده.

همدا راز قرآن عظیم الشأن فرمايي:

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ٣٤ إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ٣٥ فَأْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ٣٦ الدخان:٣٤-٣٦

یقیناً دا کسان حتماً وايي: زموږ مرګ نه دئ مګر همدا لومړی مرګ "بل مرګ ژوند نشته" او موږ بیا راژوندي کېدونکي (او په زمکي کي خورېدونکي) نه یو، که تاسو رښتوني یاست " چي د قیامت ورځ به راځي او موږ به له خپلو قبرونو راپورته کېږو" نو زموږ پلرونه راژوندي کړئ!!

الله جل شأنه د دوی په ځواب کي فرمايي:

أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنَٰهُمْ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ٣٧ الدخان:٣٧

آیا دوی غوره دي که د تبع قوم "چي له قرېشو نه د مخه تېر شوی او د عربو پر ملک ئې حکومت کړی او د دوی د اقتدار له قصې د عربو فرد فرد حتی ماشومان هم خبر وو" او هغه چي تر دوی د مخه تېر شوي، موږ هلاک کړل، د دې لپاره چي مجرم ول "د جرم په وجه مو هلاک کړل".

مګر دغه خبره چي د تبع ځواکمن او واکمن قوم چي پر عربو ئې حکومت کولو، ظروف او شرائط د دوی په خدمت کي، خو د دې لپاره چي

د جرم لار ئې غوره کړه، حسیب خدای جل شأنه مو اخذه او هلاک کړل، دا د دې خبري دلیل نه دئ چي دلته د مکافات او مجازات سلسله شته؟ او انسان به د خپلو عملونو د پوره او کامل اجر تر لاسه کولو لپاره له قبر نه را پورته کېږي؟ د همدې خبري د اثبات لپاره قرآن عظیم الشأن په دې استناد کوي چي د تبع قوم مجرم وو او الله تعالی هلاک کړ.

## په عالم کي نظم او هدفمندي:

همدا راز قرآن عظیم الشأن د قیامت د اثبات لپاره په دې خبري استدلال کوي چي ته په دې خور، وسیع او پراخ عالم کي، بېهوده او عبث شی نشې موندلی، په دې ټول عالم کي داسي یوه نقطه نشې ښودلی چي هلته نظم او یووالی او تنسیق نه وي، هلته دي کوم اضافي شی وي، هلته دي کوم بېهوده شی وي، هلته دې کوم قصور او نقص وي.

ته په دې ټول عالم کي قصور نشې په گوته کولی، کمښت نشې ښودلی، بې نظمي او عدم تنسیق نشې ښودلی، عبث او بېهوده شی نشی پیدا کولی، هر څومره چي غور، څېړنه او دقت وکړې، دومره چي سترگي دي ستړې او ستومانه شي، بېهوده او عبث شی نشې موندلی، هر څومره چي په عالم کي د نقص پیدا کولو لپاره ځیر شې او څېړنه وکړې، سترگي به دي بېرته ستومانه او نامراده تا ته راگرځي.

ٱلَّذِی خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِی خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ٣ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ

يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ ٤ الملك ٣-٤

٣- هغه ذات چي اوه آسمانونه ئې پوړ پوړ پيدا کړل، د رحمن په مخلوقاتو کي بېلوالی ليدی نه شې، نو وغړوه سترگي، آيا گوري کوم يو چاود؟ ٤- بيا هم وغړوه سترگي په وار وار، راوبه گرځي سترگي ستا په لوري نامراده او وي به ارمانجني.

په داسي حال کي چي ته په دې ټول خور او پراخ عالم کي يو بېهوده شی نشې پيدا کولی، څنگه کېدی شي چي انسان دي عبث او بېهوده پيدا شوی وي، حال دا چي ټوله هستي د ده په خدمت کي ده، د زمکي او آسمانونو هر څه الله جل شأنه د ده لپاره پيدا کړي، د ده لپاره ئې مسخر کړي او د ده په خدمت کي دي!!؟ که د قيامت ورځ نه وي او د انسان سره محاسبه ونشي، د دې معنی دا ده چي دا ټول عالم خوشي، عبث او بېهوده پيدا شوی!! حال دا چي الله جل شأنه په دې عالم کي هيڅ شی بېهوده نه دئ پيدا کړی، لکه چي قرآن فرمايي:

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ٣٨ الدخان: ٣٨

او موږ دا آسمانونه او زمکه او څه چي په دوی کي دي، د لوبو کوونکو په توگه نه دي پيدا کړي " د ماشومانو د لوبو په څېر مو نه دي پيدا کړی"

مَا خَلَقۡنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٣٩

الدخان:٣٩

نه مو دي پیدا کړي مګر په حقه سره، خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

یعني الله جل تعالی دا زمکه او آسمانونه د ماشومانو د لوبو په څېر نه دي پیدا کړي، دلته عبث او بېهوده شی نشي موندلی، دلته هر شی په حق پیدا شوی، خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ مِيقَٰتُهُمْ أَجْمَعِينَ ۞ الدخان:۴۰

یقیناً چي د فصل ورځ د دوی ټولو میقات او میعاد دئ.

هلته به ټول راغونډېږي، د الله په وړاندي به ودرېږي او په هغه ورځ به د ښه او بد تفکیک کېږي، د دوی ترمنځ به فیصله کېږي او خلک به په ډلو ډلو وېشل کېږي.

دا چي ته دا عالم په حقه ګورې او باطل او بېهوده شی په هغه کي نشې موندلی، دا پخپله د دې تقاضا کوي چي له انسان سره د محاسبې او د ده د مکافات او مجازات لپاره باید یوه معینه ورځ په مخکي وي، ځکه ګورو چي یو له دنیا نه مظلوم ځي، بل د ګناه له پېټي سره له دنیا وداع کوي، په داسي حال کي چي ظلم ئې کړی او د بل حق ئې تلف کړی، باید د هغه مظلوم پوښتنه وشي او له دې ظالم سره حساب، هغه چي د ګناه له پېټي سره تللی باید محاکمه او مجازات شي، که داسي نه وی نو معنی ئې دا ده چي دا دنیا عبث او بېهوده ده، چي یو څوک ظلم وکړي، د بل چا حق تلف کړي او له حق نه منحرف شي، خو د خپل عمل جزا و نه ګوري؟ د ګناه دروند پېټي ئې پر اوږو او له ډېرو حق تلفیو او ظلمونو سره ولاړ شي، که د محاسبې لپاره د قیامت او د فصل ورځ نه وي او د مکافات او

مجازات ورځ نه وي، د دې معنی دا ده چې دا دنیا خوشې، عبث او بېهوده پیدا شوې، حال دا چې په دې عالم کې د یوې ذرې برابر بېهوده شی نشې ښوولی.

د نبأ په سوره کې ګڼ شمېر داسي شیانو ته اشاره شوې چې د هر یوه د پیدایښت هدف هم په ګوته شوی:

عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ١

له څه نه یو بل پوښتي.

عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ ٢ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ مُخۡتَلِفُونَ ٣

له هغې ستري خبرې. هغه چې دوی په کې په خپله مختلف دي.

د قیامت د ستري خبري په اړه یو له بله پوښتي، چې دا به کله او څنګه واقع کېږي؟ هغه خبره چې دوی د هغې په اړه اختلاف کې دي، په دې اړه واحده رأیه نه لري، مختلف نظریات وړاندي کوي.

كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ٤ ثُمَّ كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ٥

نه داسي نه ده (لکه دوی چې ګمان کوي) ژر به وپوهېږي، نه داسي نه ده (لکه دوی چې ګمان کوي) ژر به وپوهېږي

أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ مِهَٰدٗا ٦

آیا دا زمکه مو یوه زانګو نه ده ګرځولې؟

زمکه ئې د یوه مقصد لپاره په داسي بڼه کې پیدا کړې چې د انسان د کور لپاره فرش شي، په خپلي غېږ کې د انسان ټولو اړتیاوو ته ځواب

ووايي.

وَٱلۡجِبَالَ أَوۡتَادٗا ٧

او غرونه د مېخونو په څېر؟

زمکه خوځېدله، په ابتدا کي د هغې حرکت نامنظم وو، غرونه ئې ورباندي راپيدا کړل، په دې سره د هغې نامنظم حرکت منظم شو. غرونه د مېخونو په شان په زمکي کي ننوتلي، دا يوازي د زمکي په سر لوړي نه دي، بلکي دا په رښتيا د مېخ په څېر، څو برخي ئې په زمکه کي او کمه برخه ئې د زمکي په سر ده. داسي نه ده چي د زمکي په سر لوړي او ژوري راپيدا شوې وي او د غرونو شکل ئې غوره کړی وي، بلکي غرونه د زمکي لپاره د مېخونو حيثيت لري، لکه کشتۍ چي د مېخونو په وجه له خوځېدو نه ساتل کېږي، همدا راز غرونه د دې باعث شوي چي زمکه له نامنظمه خوځېدو نه وساتلی شي.

وَخَلَقۡنَٰكُمۡ أَزۡوَٰجٗا ٨

او تاسو مو جوړه جوړه پيدا کړئ "نر او ښځه، د دې لپاره چي ستاسو نسل ادامه وکړی"

وَجَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ سُبَاتٗا ٩

او ستاسو خوب مو د هوسايني لامل کړ؟

ستاسو خوب ئې د راحت، هوسايني او د دې سبب وګرځاوو چي ستوماني مو ختمه او ضايع شوی ځواک مو بېرته جبران شي، بېرته قوت

واخلئ، ستړي او ستومانه يئ، د مزيد کار کولو توان مو ختم شوی، په تاسو خوب راولي، تر څو آرام وکړئ او ستړيا مو ختمه شي، خوب ستاسو د ژوند يو حالت دئ، خو په دې کي لوی حکمت، هدف او مقصد مضمر دئ، د دې لپاره چي تاسي خپله ضايع شوې انرژي بېرته جبران کړئ، تاسو د ژوند د ادامې لپاره خوب ته ضرورت لرئ، د خوب لپاره يوې ارامي تيارې فضا ته ضرورت لرئ، گورئ چي ستاسي لپاره ئې همدغسي حالت راپيدا کړی، شپه خپل وزر په ټول هغه ځای خپور کړي چي ستاسو د ټېکي او د ارام ځای دی.

وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِبَاسًا ١٠ وَجَعَلۡنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشًا ١١

او دا شپه مو کړه په څېر د يوه پوښاک؟ او دا ورځ مو کړه مهال د ژوند او ژواک؟

شپه مو د لباس په څېر کړه او ورځ مو د معاش وسيله کړه.

له شپې وروسته تاسو ورځي او رڼا ته ضرورت لرئ، تر څو هر شی په هغه کي وپېژنئ، مفيد او مضر تفکيک کړی شئ او خپل معاش تأمين کړی شئ، د دې لپاره چي ژوند مو ادامه وکړي، ورځي او رڼا، حرارت او تودوخي ته ضرورت لرئ، دا دئ الله جل شأنه ورځ راپيدا کړې، دا د شپې او ورځي په يو بل پسې د راتلو په وجه ده چي د زمکي په سر انسان ژوند کولی شي، نبات او حيوان ژوندی پاته کېدی شي، که دا نظم نه وي او يا په دې کي معمولي تغيير راشي د زمکي په سر به ژوند ممکن نه وي، يا به زمکه هومره گرمه شي چي انسان به په کي ژوند نشي کولی، يا به دومره

سره شي چي د انسان د ژوند امکانات به په کي ختم شي، خو الله جل شأنه په منظمه توگه شپه او ورځ يوه په بلي پسي راولي، دا دئ گورئ چي د عالم په هر څه او هر حالت کي يو هدف او مصلحت مضمر دی.

لږ دغي زمکي ته چي په غېږ کي ئې ژوند کوې او پر اوږو ئې درومې وگوره، ستا لپاره يوه زانگو، نه ډېره سخته او کلکه، هومره چي د استفادې وړ نه وي او نه هومره نرمه او پسته چي نه پرې تگ ممکن وي او نه د اوسېدو وړ، نه ډېره توده او نه له اندازې زياته سړه، ستا له طبيعي جوړښت سره متناسبه، هوا ئې معتدله، ستا د اوسېدو لپاره جوگه، تياره يوه زانگو، داسي چي که ئې وضعيت لږ تر دې بدل وی، د تودوخي درجه ئې زياته يا کمه، فشار ئې لږ يا ډېر، د ورښت اندازه ئې زياته يا کمه او بله هره عادي تبديلي او تغيير چي نظم ئې له منځه وړي، ستا ژوند له جدي گواښ سره مخامخ کوي او دا زانگو ستا لپاره گور گرځوي!!

د زمکي له اوارو نه لږ د لوړو په لور، غرونو ته سترگي واړوه، آيا دې ته دي پام شوی چي دا غرونه ستا د زمکي مېخونه دي او ونډه ئې د زمکي د زانگو په راټينگولو او تمولو کي هومره ده لکه د کيږدۍ په درولو کي د مېږويو او د يوه صندق په جوړولو کي د مېخونو، هو دا د زمکي مېخونه دي، په څو معنا:

الف: داسي مه انگېره چي دا غرونه يوازي د زمکي پر سر لوړي دي، گمان مه کوه چي د زمکي پورتنۍ برخه گونځي شوې او دا لوړي او ژوري په کي راپيدا شوې، تا ته به غرونه د خاورو او تيږو لوړي غونډۍ برېښي، خو

حقيقت داسي نه دئ، غرونه د مېخونو په څېر د زمکي په زړه کي ننوتي، لويه برخه ئې د زمکي په زړه کي او وړه برخه ئې راوتلې او د زمکي پر سر ده. او آيا پوهېږئ چي دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ، انسان اوس او په شلمه پېړۍ کي په دې پوه شو چي واقعاً غرونه هسي د زمکي د سر لوړي نه دي، بلکي د مېخونو په څېر ئې لويه برخه د زمکي په زړه کي او وړه برخه ئې د زمکي پر سر ده.

ب: دغو سترو او درنو غرونو د زمکي بېلي بېلي برخي په خپلو کي سره کلکي نښلولې، داسي لکه د اوسپني تختې چي د ولډنګ په ذريعه په خپلو کي سره ونښلي، دا غرونه د زمکي پر سر هغه درانه پېټي وګڼئ چي نه پرېږدي د زمکي هغه کلک او ډبرين پوستکی چي تر خاورو څو کيلومتره لاندي دئ، د هغه فشار په وجه مات شي چي د زمکي له زړه نه د خوټېدونکو موادو نه راولاړېږي، په دې ترتيب غرونه د زمکي د زلزلو مخنيوی کوي، انسان له ډېرو علمي څېړنو وروسته نن په دې حقيقت پوه شوی چي د زمکي تر خاورين قشر لاندي، د کلکي ډبري پرېړ پوستکی راتاو شوی او د زمکي په زړه کي د ډېر فشار او تودوخي په وجه هر څه ويلي او د خوټېدو په حالت کي دي، له دې نه چي کوم فشار راپيدا کېږي هغه داسي وګڼئ لکه په سره اور پروت، د خوټېدو په حال کي د بخار دېګ چي له داخله تر سخت فشار لاندي وي، د زمکي ډبرين پوستکی هم دې ته ورته د ډېر ستر فشار لاندي وي، که دا غرونه او د دوی زيات وزن نه وی نو د دې فشار په وړاندي به ئې د مقاومت تاب نه درلود او دلته هلته

به یو په بل پسې ماتېدو او زلزلې به راولاړېدې. دا د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز دئ چې غرونه ئې د (مېخونو) او (لنگر) په نامه یاد کړي او دا هغه حقیقت دئ چې انسان فقط په دې پېړۍ کې ورباندې پوه شو. قرآن دا حقیقت هم بیان کړی چې د غرونو له راپیدا کېدو مخکې زمکه خوځېده، له پرله پسې زلزلو سره مخامخ وه، الله تعالی غرونه ورباندې راپیدا کړل او دا خوځښت ئې سمبال شو او دا هم د غرونو په ارتباط یو بل ستر علمي حقیقت دئ چې انسان اوس ورباندې پوه شوی.

په دې هم پوهېږو چې غرونه د اوبو زېرمې په خپلې سینې کې ساتي، د واورې ستر ستر ذخایر له فوري ویلې کېدو ساتي، نهرونه، چینې او کارېزونه له همدې غرونو نه رابهېږي، د مختلفو سیمو د هوا او موسم په تغییر او د رنگ رنگ نباتاتو په زرغونېدو کې د غرونو ونډه ډېره اساسي او ټاکونکې ده، نو غرونه له دې پلوه هم د زمکې د خېمې لپاره د مېخونو حیثیت لري چې د ژوند د بقا او ژوندیو ته د رزق او روزي په برابرولو کې مؤثره ونډه لري.

د اتم آیت په اړه باید څو اساسي ټکیو ته متوجه وو:

الف: انسانان جوړه جوړه، نر، ښځه پیدا شوي، یو د بل مکمل او بشپړوونکي، هر یو ئې د بل تر څنگ د ډاډ، اطمئنان، سکون او آرامۍ احساس کوي او یو له بله د بېلوالي په صورت کې د نقص، کموالي او د کوم ضروري او حیاتي شي د ورکولو احساس کوي، د دغو جوړو ترمنځ جاذبه او مینه له همدې احساسه راولاړېږي او همدا جاذبه او مینه د انسان د

نسل د بقا لپاره ضروري ده، له دې پرته د انسان د نسل دوام ممکن نه وو.
ب: د قرآن له نظره انسان، حیوان او ټول ژوي او د عالم هر څه جوړه جوړه پیدا شوي، قرآن د طبیعت د ټولو توکو تر منځ (زوجیت) د کمال او دوام باعث ګڼي. دا دقیقه نظریه د هغه بې بنسټه او غلط تصور کاملاً خلاف ده چې د کمونستانو ماتریالستي فلسفه ئې د تکامل د عواملو په اړه وړاندي کوي، هغوی (تضاد) او د متضادو توکو ترمنځ دائمي (نزاع) د تکامل وسیله ګڼي!! دا په داسي حال کي چي ټول عالم د (ازواج) او جوړه جوړه توکو مجموعه ده، د دې خور عالم په هیڅ برخي کي د تضاد او عدم زوجیت بېلګه نه شو موندلی، د عالم په هري برخي کي د دې حقیقت شاهد یو چي تکامل د ازواج او جوړو ترمنځ د ګډ کار او ژور تنسیق نتیجه ده، په حیواناتو او نباتاتو کي په څرګنده ګورو چي یو ئې څه د (ورکولو) لپاره لري او بل ئې د (اخیستلو) لپاره، د یوه ورکول یوه اړتیا وي او د بل اخیستل، همدغه احساس یو بل ته نږدې کړي، یو د بل نقص او اړتیا ته ځواب وایي او ضرورت ئې رفع کړي، همدا د دواړو ترمنځ د راکړي ورکړي رابطه او تنسیق د نوي موجود د پیداښت باعث شي او د دغي (جوړې او زوج) د نسل دوام او بقا میسر او ممکن کړي. د طبیعت په عناصرو کي هم ګورو چي دوه توکي یوازي هغه وخت یو له بل سره ترکیب کېدی شي او نوی او ځوان توکی رامنځته کولی شي چي یو ئې د بل مکمل وي، یو ئې د ورکړي لپاره کوم اضافي شی ولري او بل ئې د اخیستو لپاره تش ځای، دا دواړه یو بل ته لاس ورکړي، سره یو

شي، يو د بل مکمل شي، يو ئې د بل بار په اوږو واخلي او بل ئې د خپلې جوړې تشه ډکه کړي او په همدې سره نوی ترکيب رامنځته کړي، د عالم ټول مرکبات همداسې جوړ شوي، د (تضاد) نظريه، واهي او بې بنسټه ده او په عالم کې د تکامل د عواملو له توجيه نه سخت عاجز او ناتوانه او د هيڅ څه د تکامل د څرنګوالي په اړه صدق نه کوي.

تاسو خوب ته ضرورت لرئ، داسې يوه فرصت ته چې په ورځني کار کې خپله مصرف شوې انرژي او قوت جبران کړئ، دمه وکړئ، اعصاب مو لږ آرام وکړي او ستړيا مو رفع شي، الله تعالی تاسو داسې پيدا کړي يئ چې له څه وخت کار نه وروسته خوب درباندې غلبه وکړي، په خپله راشي، حتی ستا له اجازې او موافقې پرته راشي، لاس، پښې مو دروتړي او له ځان سره مو بيايي، د خوب مهار ئې ستا په واک کې نه دئ درکړی، بلکې ستا مهار ئې د هغه لاس ته ورکړی، چې کله ستومانه شې او ستا ستوماني او ضعف هغه ځای ته ورسېږي چې نور نو هيڅ کار نه شې کولی، ناڅاپه دې خوب خوا ته راشي، ستا کار درباندې متوقف کړي، ستا د وجود بېلابېلو برخو ته دا فرصت ورکړي چې خپلې نيمګړتياوې پوره کړي، خپله ستوماني رفع کړي او د راتلونکې پړاو لپاره کار ته ځان چمتو کړي، ګورې چې ( ستا په خوب) کې څومره ستر مصلحت او حکمت پروت دئ!! که (خوب) نه وی او يا ئې مهار د انسان په واک کې وی، څومره ستر ستر مصيبتونه به ئې انسان ته راولاړ کړي وو؟!! حريصو انسانانو به خپل ټول توان او ځواک په لنډې مودې کې مصرفاوو، خپله روغتيا به ئې په خطر کې

اچوله او خپل ژوند به ئې د مرگ له گواښ سره مخامخ کاوو!!

تاسو د (خوب) لپاره دوو شیانو ته ضر ورت لرئ: (تیاره او چوپتیا)، نه په رڼا کې سم او ژور خوب کولی شئ او نه له شور او ځوگ نه ډک محیط کې، ناڅاپي گورې چې ستا مرستي ته شپه راشي، خپل تور وزر په هر څه او هر ځای خور کړي، غږونه غلي شي، هر د غږ خاوند د خوب غېږ ته پناه یوسي او په دې سره ستا د خوب لپاره مناسب شرایط برابر شي.

تاسو د خپل ژوند مخکي بیولو او د خپل معاش او رزق، روزي د تأمین لپاره ورځي ته ضرورت لرئ، ترڅو د هغې په رڼا کې هر څه وپېژنئ، مفید له مضر نه تفکیک کړئ، دوست له دښمن نه بېل کړئ او په خپل چاپېریال کې د شته توکو د کارولو امکان ترلاسه کړئ. د زمکي او آسمانونو خالق زمکه داسي جوړه کړې او د زمکي او لمر ترمنځ فاصله او د زمکي حرکت په خپل محور او د لمر په محور ئې داسي تنظیم کړی چي کله د زمکي پر سره شپه وي او کله ورځ، نه شپه هومره اوږده وي چي زمکه تر ضرورته زیاته سړه شي او نه ورځ هومره اوږده چي زمکه تر لازم حده زیاته توده شي، باید یوه په بلي پسې راشي، تر هغه ستا خوا ته پاتې شي چي ضروري وي، ستا اړتیا رفع کړي، خپل کارونه ترسره کړي، بېرته ولاړه شي او خپل ځای بلي ته خالي کړي!! که دا دقیق نظم نه وی، شپه او ورځ تر خپل اوسني وخت لنډه یا اوږده وی، د لمر او زمکي تر منځ واټن کم یا زیات وی، د زمکي چورلېدل او خوځېدل تند یا سست وی، نو د زمکي پر سر به ژوند ممکن نه وو.

وَبَنَيۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعٗا شِدَادٗا ١٢ وَجَعَلۡنَا سِرَاجٗا وَهَّاجٗا ١٣ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡمُعۡصِرَٰتِ مَآءٗ ثَجَّاجٗا ١٤ لِّنُخۡرِجَ بِهِۦ حَبّٗا وَنَبَاتٗا ١٥ وَجَنَّٰتٍ أَلۡفَافًا ١٦ النبا:١٢- ١٦

١٢- او له تاسو بر مو جوړ کړل کلک اوه گوني. ١٣- او جوړ کړی مو څراغ دی روڼ او تود. ١٤- او اوبه مو کړې راتوی له نښتېځونکو پرله پسې. ١٥- چې راوباسو په دې سره څه بوټي څه دانې. ١٦- او سمسوره گڼ باغونه.

د زمکې پر سر ستاسو دا تمځی داسي دئ چي د زمکي سطح ئې ستاسو د کور فرش، اوه آسمانونه ئې چت، کهکشانونه او ستوري ئې فانوس، لمر ئې څراغ او سپوږمۍ ئې د شپې شمع ده. قرآن دې ته په اشارې سره چي ستاسو له پاسه مو محکم اوه گوني پيدا کړي، څو اساسي خبرو ته اشاره کوي:

الف: يا خو زمونږ دا زمکه اوه فضائي مدارونه لري او يا دا ټول عالم د آسمانونو په نامه اوه طبقو احاطه کړی. په قرآن کي کله گورو چي له زمکي نه بري فضاء ته آسمان ويل شوي او فرمايي چي باران له آسمانه وروو او معلومه ده چي باران له هغو ورېځو راورېږي چي فاصله ئې زمونږ له زمکي نه تر لسو کيلومترو کمه وي. او کله د ستورو موقعيت ته آسمان ويل شوي او وايي چي په ستورو سره مو د دنيا نږدې آسمان ښاېسته کړی، يعني ټول ستوري تر لومړي آسمان رالاندي دي.

ب: گورو چي دا اوه گونې طبقې ډېر مضبوط او دقيق نظام لري، ټول سماوي اجرام ئې په خپلي غېږ کي کلک نيولي، يو له بل سره د دوی له ټکر او تصادم نه مخنيوی کوي، نه پرېږدي چي يو د بل په مدار کي ننوځي، ستر ئې ووړ جذب کړي، هر يو په منظمه توگه، په خپل خپل مدار کي خوځي، هر يو په خپل خپل ځای کي ساتي، د دغو بې شمېره سماوي اجرامو دا دقيقه ساتنه ښيي چي زمونږ په فضاء کي يو مضبوط، ځواکمن او دقيق نظام حاکم دی.

ج: الله تعالی د زمکي فضاء داسي جوړه کړې چي له يوې خوا د هغو مضر او تاواني وړانگو او پلوشو مخنيوی وکړي چي له لمر نه د زمکي په لور رادرومي او له بلي خوا د يوه مضبوط چت په څېر پر زمکي د شهاب ثاقب له راپرېوتو مانع شي، کوم شهابونه چي د زمکي په لور راځي له دغي متکاثفي او پرېړي فضاء سره له ټکر او تصادم نه وروسته يا ويلي شي او يا ئې مسير بدل شي او له زمکي نه ئې مخه بل لوري ته واوړي او د هوا همدا طبقه د زمکي تودوخه ساتي او په لايتناهي فضا کي ئې د خورېدو مخه نيسي، هغه ستوري چي داسي متکاثفه او پرېړه فضاء نه لري له يوې خوا په پر له پسې توگه شهابي ډبري پرې راپرېوځي او له بلي خوا ئې د شپې له پلوه هوا ډېره سړه شي.

۱۳ـ هغه حکيم ذات چي دا کائنات ئې پيدا کړی، لمر ئې داسي گرځولی او فاصله ئې له زمکي نه دومره ټاکلې چي زمونږ دوو اړتياوو ته ځواب وويلی شي: مونږ ته رڼا او تودوخه راکړي، زمونږ دا د زمکي کور هم تود کړي هم

روښانه، لمر ئې (سراج او وهاج) يعني (تود او ځلانده څراغ) گرځولی، زمونږ دواړو جدي او حياتي اړتياوو ته ځواب ويونکی، د لمر د نور او حرارت په مقدار کي ډېر لږ تغيير او د زمکي او لمر ترمنځ په اوسني واټن کي ډېره لږه تبديلي او د شپې او ورځې په اوسنۍ اندازې او د زمکي په خپل محور چورلېدو او د لمر په محور خوځېدو کي ئې معمولي تبديلي د دې باعث کېږي چي د زمکي پر سر دا موجود تعادل له منځه ولاړ شي او په هغې کي ژوند ناممکنه شي.

زمونږ زمکه له لمر نه ۹۳ مليونه ميله فاصله لري، د لمر حجم د زمکي د حجم ۱۰۹ برابره دئ او د لمر د سطحي تودخه د سانتي گريډ په حساب ۱٤ مليونه درجې ده، سره له هغه اوږده واټنه چي له لمر نه ئې لرو، نه شو کولی په عادي سترگو څو ثانيې لمر ته وگورو، د زمکي په ځينو برخو کي چي د لمر وړانگې پر له پسې پرې لگېږي د حرارت درجه کله کله ۱٤۰ درجو ته ورسېږي، که زمونږ زمکه لږ لمر ته نږدې وی نو تودوخه به ئې هومره وه چي نه به انسان او حيوان پرې ژوند کولی شو او نه به بوټي ورباندي راشنه کېدی شول او که ئې فاصله له لمر نه تر دې زياته وی نو سختي يخنۍ به د زمکي پر سر د ژوند مجال له منځه ووړ، خو دا فاصله داسي تنظيم شوې چي مونږ د لمر له نور او حرارت نه د ضرورت په اندازه گټه واخيستی شو.

په څوارلسم آيت کې، ورېځې د معصرات يعني زبېښېدونکي په نامه يادي شوې، په دې پوهېږو چي ورېځې د اوبو متکاثف او راغونډ شوي

بخارات دي، چي د هوا د فشار او تودوخي په تغيير سره د اوبو په څاڅکو واوړي او د باران، واوري او ږلۍ په څېر ورېږي، د لمر وړانګې د دې باعث شي چي د سيندونو اوبه تبخير شي، په وربځو واوړي، بادونه ئې په خپل سر واخلي، لرو لرو سيمو ته ئې انتقال کړي، د غرونو پر جګو څوکو د واوري په څېر او په اوارو او معتدلو برخو د باران په څېر وورېږي، که دا نظام نه وی نو زمکه به د ژوند لپاره وړ نه وه، د دې موضوع په اهميت هلته ښه پوهېدی شو چي څو اساسي ټکيو ته پام وکړو:

لومړی- که د بحرونو اوبه تبخير نه شي او د وربځو په توګه فضاء ته پورته نه شي، ځيني برخي ئې په فضاء کي، ځيني ئې په غرونو او سړو سيمو کي د واورو د سترو زېرمو په شکل کي او ځيني ئې د زمکي لاندي برخي کارېزونو او چينو کي او يوه برخه ئې د زمکي پر سر د نهرونو په څېر خوندي نه شي، ټوله زمکه به په اوبو کي غرق او ټولي وچي به تر اوبو لاندي شي.

دوهم- د څښاک هيڅ پاکي اوبه به مو نه درلودې، له لنډي مودې وروسته به ټولي اوبه د سيندونو د اوبو په څېر تروې، ناولې او تېزابي کېدې او د څښلو وړ به نه وې.

درېيم- د انسانانو، حيواناتو او نباتاتو لپاره چي هره ورځ څومره اوبه په کار دي، دا لوی مقدار صافي او د استفادې وړ اوبه برابرول له بلي هيڅ لاري او په بلي هيڅ عمليې سره ممکن او مقدور نه ده، د (ثجاج) لفظ چي د پرېمانه او پر له پسې په معنا ده د همدې لپاره په دې مبارک آيت کي راغلی او

همدغه حقیقت ته اشاره کوي.
څلورم- محتاجو او اړو سیمو ته د دې مقدار اوبو انتقال هومره پراخو امکاناتو ته ضرورت لري چي د انسان له توانه ډېر ډېر اوچت دئ، آیا په دې پوهېږئ چي یوه واړه ښار ته پاکي اوبه رسول، څومره گران کار دئ او څومره مصارف غواړي، د دې پوښتنه له هغو ملکونو وکړئ چي د بحر خوا ته پراته او د زمکي لاندي اوبه ئې تروې دي او دې ته اړ چي د بحر اوبه تصفیه کړي ترڅو خپلو خلکو ته د څښاک صافې اوبه برابري کړي.
پنځم- دا ورښت دئ چي د زمکي هوا تصفیه کوي، فضاء له زهرجنو او مضرو گازونو، مکروبونو او گندگیو تصفیه کوي او استنشاق او تنفس ته ئې تیاروي، له ورښت نه پرته له بلي لاري د زمکي د سر د ټولو حیواناتو او انسانانو د ضرورت وړ دومره زیاته صفا هوا برابرول ممکن نه ده، په بلي هیڅ عملیې دا کار نه شي کېدی.
۱۵ـ۱٦: په دې دواړو آیتونو کي د ورښت هدف ته داسي اشاره شوې: له آسمانه په دې ورېدونکو اوبو سره ستاسو له زمکي نه بوټي او وني او دانې او مېوې راباسو، آسمان ستاسو لمر په خپلي غېږ کي نیولی، د زمکي په لور خپلي وړانگې خوروي اوبه تبخیروي، دا بخارات په ورېځو بدل شي، لرو لرو سیمو ته انتقال شي، له بره پر تاسو باران وروي او په همدې باران سره د زمکي له زړه نه دانه او مېوه راپیدا کوي، آیا دا تاسو ته په ډېر صراحت او وضاحت سره نه وایي چي د زمکي او آسمان تر منځ دقیق یووالی او تنسیق حاکم دئ، دواړه یو بل ته لاس ورکوي او د یوې دقیقي منصوبې او

طرحي له مخي په ګډه کار کوي او ستاسو اړتیاوو ته ځواب وايي، بوټي او وني د زمکي ختټه زیبښي، ستاسو د ضرورت وړ توکي جذبوي او له هغه نه داسي ښکلې دانې او مېوې جوړوي چي رنګ ئې ښاپسته، خوند ئې لذیذ، بوی ئې ښکلی، شکل ئې جذاب او هضم ئې آسانه او همدا ستا غذا! دا بهیر مونږ ته ښيي چي د زمکي او آسمان د چارو تدبیر له یوې مرجع ترسره کېږي او له دې بهیر نه ثابتېږي چي څه په آسمان کي ترسره کېږي او څه پر زمکه واقع کېږي، دا ټول د یوې دقیقي او منظمي منصوبې له مخي ترسره کېږي، دلته هر حرکت هدفمندانه دئ، دلته هرڅه سم پیدا شوي او په سم لور خوځي، نه څه خوشی او عبث پیدا شوی او نه په خپل سر او بې مقصده لګیا دئ.

سره لدې چي ګورو په دنیا کي هر څه هدفمند دي، د یوه مقصد لپاره پیدا شوي، بېهوده او عبث نه دي، ګورئ هر یو د یوه خاص مصلحت او مقصد لپاره پیدا شوی، څنګه کېدی شي دا خبره ومنو چي د انسان پیدایښت دي بې مقصده، بېهوده او عبث وي، د ظالم او د مظلوم ترمنځ دي محاسبه او قضاوت ونشي، یو دي د ګناه، ظلم او حق تلفۍ له پېټي سره دنیا پرېږدي او څوک دي له هغه پوښتنه و نه کړي او بل دي مظلوم ولاړ شي او هغه دي خپل حق تر لاسه نکړي! دا غلط ذهنیت په هغه صورت کي د منلو وړ وو چي دا عالم بې هدفه، عبث او بېهوده وی.

إِنَّ يَوۡمَ ٱلۡفَصۡلِ كَانَ مِيقَٰتٗا ١٧

بې شکه چي د پرېکړې ورځ ټاکلې یوه نېټه ده.

نو په دې حقیقت کې شک مه کوه چې (یوم الفصل)، ستاسو د ښو او بدو په اړه د قضاوت ورځ، د صالح او طالح تر منځ د تفکیک او توپیر ورځ به راځي، میقات ئې ثابت دی او نېټه ئې نه بدلېدونکې، حتماً او په ټاکلې وخت به راځي، ټول کائنات د دې خبرې په حقانیت شهادت ورکوي، د عالم په اوړدوالي او سور کې هري خوا ته موجود دقیق نظم او هدفمندي د دې ورځې د حتمي راتلو تقاضا کوي.

مګر نه ګورئ چې الله تعالی مړه زمکه په یوه باران سره راژوندۍ کړي، همداسي به تا هم د ګور له خاورو نه ژوندی راباسي، آیا هغه ذات چې انسان ئې په لومړي سر کې هم له خاورو راپیدا کړ او بیا ئې د ده نطفه هم تل له خاورو جوړه کړه، په دې قادر نه ګڼې چې بیا به ئې له خاورو راپیدا کړي؟! آیا هغه ذات چې انسان ئې د یوې دقیقي منصوبې له مخې، جوړه جوړه پیدا کړ ترڅو د نسل بقا ئې تضمین کړي، له دې عاجز ګڼې چې بیا دي راژوندی کړي؟!!

په آخرت نه ایمان په دې معنی ده چې دا خور وور او ستر عالم نه د کوم څرګند او واضح هدف لپاره پیدا شوی او نه روښانه او واضحه پایله لري، خوشې او د هیڅ لپاره پیدا شوی، نه ئې د پیداېښت لپاره کومه دقیقه منصوبه وه او نه کوم هدف او مقصدپه پام کې!! دا غلط تصور او خطا انګېرنه داسي ده چې د عالم هیڅ څه ئې نه تائیدوي، د عالم له هر څه نه د یوه عقلمند او باشعوره انسان له انتباه سره تصادم کوي، مګر تاسو ونه لیدل چې قرآن په دغې مبارکې سورې کې د زمکې او آسمان څومره شیان

زمونږ مخې ته کېښودل او د هر یوه د پیداېښت مقصد او هدف او د دوی ترمنځ ژور یووالی او تنسیق ئې مونږ ته بیان کړ؟! آیا د انسان عقل دا منلی شي چي د عالم هر څه دي هدفمند وګوري خو خپل پیداېښت دي عبث او خوشې وګڼي؟! داسي چي ښه او بد ئې برابر او هر کار ئې عادي او طبیعي وګڼلی شي، که آسمان، زمکه، لمر، ورېځي، بادونه، باران، دانه، نبات او ونه د خپل فطرت د تقاضا او غوښتنو خلاف کوم کار وکړي او د خپلو دندو په ترسره کولو کي پاتې راشي، کوم خطرناک حالت به رامنځته شي؟ څنګه ومنو چي انسان په دې عالم کي یوه استثنا ده، کولی شي د خپل فطرت خلاف عمل وکړي او له هغه مسیر نه یوې خوا بلي خوا ته منحرف شي پرته له دې چي د خپلې غلطۍ له بدو پایلو سره مخامخ شي؟!!

قرآن د هغه چا په اړه چي له الهي محاسبې انکار کوي، په بصیر خدای باور نه لري، ګمان ئې دا دئ چي نه خدای د ده د کړو وړو شاهد دئ، نه د قیامت ورځ راتلونکې ده او نه به انسان ته د ده د عملونو سزا ورکول کېږي، فرمایي:

أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ٧ أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ٨ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ٩ وَهَدَيْنَـٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ١٠ البلد: ٧-١٠

آیا داسي انګېري چي هیڅکله به څوک پرې قادر نه شي؟ وایي: ډېر مال مې تباه کړ! آیا دی انګېري داسي چي هیچا نه دئ لیدلی؟

راشئ وګورو چي دا څوک او کوم انسان دئ چي ځان ورته دومره ځواکمن او قدرتمن برېښي چي ګمان کوي هیڅوک به پرې برلاسی نه

شي؟! که څه هم په آيت کي ورته په څرګنده ګوته نه ده نيول شوې خو د کلام له فحوی په واضح توګه معلومېږي چي دا همغه مغرور انسان دئ چي د پيغمبرعليه السلام هتک حرمت ته ئې ملا تړلې او د الله تعالی د کور په حرم کي پر ده هر تېری او تجاوز جائز او حلال ګڼي، هماغه چي خپل ټول زور ځواک ئې د پيغمبرعليه السلام او د ده د دعوت په مخالفت کي کارولی او ادعا کوي چي که پيغمبرعليه السلام په حقه وی او الله تعالی او فرشتې ئې د ده ملاتړي وی نو له د غو کړاوونو او ستونزو سره به نه مخامخ کېدو!! او د ده مخالفينو بايد هيڅکله دا فرصت نه شوی ترلاسه کولی چي له ده سره په عناد او دښمنۍ لاس پوري کړي، دی وځوروي او د ده ياران او ملګري وربېروي او سره له دې د الله تعالی له نيوني او مؤاخذې خوندي وي! دغو مغرورو سردارانو ته ويل شوي چي آيا ستاسو زور ځواک دا د غرور او کبر احساس درکې راولاړ کړی؟ آيا د پيغمبر عليه السلام او د ده د دعوت په ضد ستاسو پراخو هلو ځلو او ډېرو وسايلو کارولو او زيات مال دولت مصرفولو په تاسو کي دا ذهنيت راپيدا کړی چي هيڅوک پر تاسو برلاسه کېدی نه شي؟ آيا داسي انګېري چي چا نه دئ ليدلی؟ مګر ګمان کوي چي بصير خدای، د ده د ناروا او ظالمانه هلو ځلو او ښکاره او پټو هڅو ناظر او شاهد نه دئ؟ سخته اشتباه کوي، هيڅ څه ئې له هغه الله تعالی پټ نه دي چي بصير دئ او د دې حقيقت د اثبات لپاره په لاندې مضبوطو دلايلو استناد کوي:

أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ۸ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ۹ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ۱۰

آیا ده ته مو دوې سترګي نه دي ورکړې؟ او یوه ژبه او دوې شونډي؟ او ده ته مو ونښودې دوې لاري؟

د دې حقیقت د اثبات لپاره چي د (انسان پیدا کوونکی رب) حتماً بصیر دئ او د ده د کړو وړو ناظر او شاهد، د انسان په دوو سترګو استدلال کوي او فرمايي: ته مخلوق يې، خالق لرې، بل پیدا کړی يې، ستا ټول استعدادونه ستا پیداکوونکي درکړي، ستا دوې سترګي هم د هغه ودیعه دي، ستا عقل څنګه دا خبره مني چي په تا کي به دا صفت وي خو ستا پیدا کوونکی به ترې محروم وي؟!! د عقل حکم خو له دې پرته بل څه نه شي کېدی چي ستا خالق باید په دې صفت په اکمل او بشپړه توګه متصف وي؟!! آیا ممکن ده په مصنوع او مخلوق کي داسي غوره صفت وي چي د هغه په خالق او صانع کي نه وي؟!! د انسان بصر او بصیرت په دې شهادت ورکوي چي الله تعالی بصیر دئ. موږ چي د عالم پیدا کوونکی رب په کومو صفتونو یادوو مظاهر ئې په عالم او د ده په مخلوقاتو کي ګورو، که وایو الله تعالی بصیر دئ دا ځکه چي د ده په مخلوقاتو کي د دې بېلګه ګورو، که وایو الله تعالی سمیع او اورېدونکی دئ، دا د دې لپاره چي د سمع د صفت مظهر د ده په مخلوقاتو کي ګورو، که وایو: الله تعالی علیم دئ دا ځکه چي د (علم) مظاهر د عالم د هر څه په پیداښت کي ګورو او زموږ عقل راته وايي چي دا عالم حتماً داسي ذات پیدا کړی چي په هر څه ښه پوهېږي.

ستا ژبه او دوه شونډي د تکلم وسایل دي، ته له دغو وسایلو نه په استفادې سره خپل مافي الضمیر بیانوې، خپل قضاوتونه منعکس کوې او

خپلې پرېکړې صادروې، په تا کي د دغه استعداد شته والی په دې شهادت ورکوي چي ستا رب حتماً د تکلم په صفت متصف دئ. حتماً به ستا د کړو وړو په اړه قضاوت کوي، وروستۍ پرېکړه به صادروي. په انسان کي د دغه صفت شته والی موږ د الله تعالی د دغه صفت په څرنګوالي پوهوي. ټول عالم د الله تعالی د صفاتو مظهر دئ، د الله تعالی د صفاتو مظاهر په ټول عالم کي ګورو، له مظاهرو څخه موږ الله تعالی او د هغه صفات پېژندی شو.

الله تعالی انسان داسي پيدا کړی چي د ده په فطرت او خټه کي ئې د (ښه او بد) د پېژندو لپاره خاص معيارونه او استعدادونه ايښي، د (فجور) او (تقوی) څېره ئې د ده د ضمير په صفحې انځور کړې، د دغه فطري استعداد په وجه ښه ورته ښه ښکاري او خوښوي ئې او بد ورته بد ښکاري او کرکه ترې لري، نېکي ورته معروف برېښي، منل شوی او پېژندل شوی حقيقت ئې بولي او له خپل فطرت سره ئې آشنا ګڼي، خو بدي ورته منکر ښکاري، کرکجنه ئې ګڼي او د خپل فطرت منافي ئې بولي، له ښو دفاع کوي او له بدو کرکه لري، داسي مَلَکې او غرېزې ئې ورکړې چي دی ښېګړو ته هڅوي او له بديو ئې منع کوي او په هر بد کار کي ئې ملامتوي، دغه استعداد د دې لامل دئ چي انسان د هر ښه او بد عمل په اړه قضاوت کوي، غواړي سزا او بدله ورکړي، که دوه انسانان د نښتي په حال کي وګوري، يو ئې ظالم بل ئې مظلوم، غواړي د مظلوم مرسته وکړي او ظالم په خپل ځای کښېنوي، په ده کي دا د (قضاوت استعداد) د دې نښه ده چي د ده (پالونکی

او پیدا کوونکی) ذات، هغه چي ده ته ئې دا استعداد ورکړی، هرومرو په دغه صفت متصف دئ، حتماً به د انسان د عملونو په اړه قضاوت کوي، د مظلوم لاس نیوی به کوي او ظالم ته به سزا ورکوي.

دا دئ ګورئ چي قرآن د الله تعالی د صفاتو د اثبات لپاره د همدغو صفاتو په هغو مظاهرو او بېلګو استناد کوي چي د ده په مخلوق کي ئې ګورو، هغه چا ته چي ګمان کوي: الله تعالی د خلکو له عملونو سره هیڅ کار نه لري او د دوی د ښو او بدو عملونو په اړه قضاوت نه کوي، فرمايي: ستا دا دوه سترګي، شهادت ورکوي چي خدای بصير دئ او ستا د عملونو ناظر، ستا دوې شونډي او ژبه په دې شهادت ورکوي چي ستا رب به حتماً ستا د عملونو په اړه قضاوت کوي، د ښه او بد په اړه ستا دا احساس د دې نښه ده چي الله تعالی به هم ستا عملونه په دوو برخو وېشي، ښه ته به ښه او بد ته به بده سزا ورکوي.

دا ځيني هغه دلائل وو چي قرآن د آخرت د ورځي د اثبات لپاره د خپل مخاطب مخي ته ايښي.

# په آخرت د ایمان غوښتني

اوس راځو په آخرت د ایمان غوښتنو ته، لکه څنګه چي په آخرت ایمان د انسان په فردي او اجتماعي ژوند ژوري اغېزې لري همداراز ځانګړې غوښتني هم لري، څوک چي په آخرت د ایمان ادعا کوي خو نه د ده په فردي او اجتماعي ژوند کي د هغه اغېز تر سترګو کېږي او نه ئې هغه ځانګړتیاوي چي دا ایمان ئې غوښتنه کوي، د ایمان ادعا ئې بې بنسټه او بې ارزښته ده. په آخرت د ایمان ځیني مهمي غوښتني دا دي:

## آخرت ته په دنیا ترجیح ورکول

په آخرت د ایمان لومړۍ تقاضا دا ده چي انسان به آخرت ته په دنیا ترجیح ورکوي، اخروي فلاح او بریا به د ده تر ټولو اوچت مقصد وي. دې ته به تیار وي چي د خپل آخرت لپاره، د دنیا هر راز ستونزي او کړاوونه وزغمي، محرومیتونه وګالي، دنیا ته ئې شا او آخرت ته ئې مخه وي، نه په دې معنی چي له دنیا په بشپړه توګه لاس واخلي؛ بلکي په دې معنی چي دنیا به د آزمویني فرصت او آخرت به د خپلو عملونو د پایلو ترلاسه کولو نېټه ګڼي، مسلمان د دنیا او آخرت دواړو ښېګڼه غواړي، دنیا د ده له نظره

د آخرت کرونده او مزرعه ده، دلته کښت کوي او په آخرت کي ئې حاصل تر لاسه کوي، ښه دنیا د ښه عقبی او خرابه دنیا د خراب آخرت مقدمه بولي، د دنیا په نسبت آخرت ته ترجیح ورکوي، د دنیا هر څه داسي ګڼي لکه وسیله، لکه د لاري توښه او آخرت اصلي مستقر او د اوسېدو اصلي ځای، په دنیا کي هغه داسي ژوند کوي لکه یو مسافر او لاروی، چي څه په دې دنیا کي تر لاسه کوي هغه زاد سفر او د لاري توښه ګڼي، په هغه سره اصلي مقصد او هدف ته ځان رسول غواړي، که چېري د آخرت په لوري د سفر په دوران کي کله ټپکه او آرام کوي داسي ئې ګڼي لکه څوک چي په یوې بېدیا کي روان وي، ستړی شي او د څو شېبو لپاره د کومي ونې سیوري ته تم شي، قرآن په دې اړه فرمایي:

فَلْيُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشْرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ٧٤

النساء:٧٤

نو د الله په لار کي دي هغه کسان وجنګېږي چي د دنیا ژوند پر آخرت پلوري او څوک چي د الله په لار کي وجنګېږي، ووژل شي، یا بریالی شي، نو ژر به ستر اجر ورکړو.

یعني د الله په لار کي هر څوک د جنګېدو وړتیا نلري، الله تعالی هرڅوک د دې لپاره اهل نه ګڼي، یوازي هغه څوک د دې وړ دئ چي هدف ئې د الله رضاء ترلاسه کول وي، خپل ژوند د الله په لار کي قرباني کوي او

دې ته تيار وي چي له خپلو ټولو دنيوي ګټو نه د اخروي فلاح او سعادت لپاره تېر شي. داسي مجاهد ته به شکور خدای ستر اجر ورکوي، که شهيد شي هم او که غازي او غالب شي هم.

څوک چي دغه پېر پلور ته تيار نه وي، هغه د دې وړ او جوګه نه دئ چي د الله په لاره کي جهاد وکړي. لومړی به انسان له ځان سره دا فيصله کوي چي دنيا په آخرت خرڅوم او د دنيا هر څه د آخرت لپاره قرباني کوم، بيا به هغه د الله په لاره کي د جهاد اراده کوي، تر څو چي هغه له الله سره دا ژمنه او عهد نه دئ کړی او دنيا ئې په آخرت نه ده خرڅه کړې، هغه د دې استعداد او وړتيا نه لري چي د الله د لاري مجاهد شي.

همدا راز فرمايي:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖۗ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ٧٧ أَيۡنَمَا تَكُونُواْ يُدۡرِككُّمُ ٱلۡمَوۡتُ وَلَوۡ كُنتُمۡ فِي بُرُوجٖ مُّشَيَّدَةٖۗ وَإِن تُصِبۡهُمۡ حَسَنَةٞ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٞ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِكَۚ قُلۡ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلۡقَوۡمِ لَا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ حَدِيثٗا ٧٨ مَّآ

أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَۚ وَأَرْسَلْنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًاۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ٧٩ النساء: ٧٧-٧٩

آيا هغو ته دي ونه كتل چي ورته وويل شو: لاسونه مو راتم كړئ، لمونځ وكړئ او زكات وركړئ، خو كله چي جهاد پرې فرض كړى شو نو يوه ډله ئې له خلكو نه داسي وېرېده لكه له الله نه او يا تر دې هم سخته وېره او ويل ئې: اې زمونږ ربه! ولي دي پر مونږ جنگېدل فرض كړل؟ ولي دي تر يوې نږدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووايه: د دنيا متاع خو وړوكى شى دئ او آخرت غوره دئ، د هغه لپاره چي تقوا ئې غوره كړه او د بڅركي په اندازه به پر تاسو تېرى ونشي. چې هرځاى وئ مرگ به مو بيا مومي، كه څه هم په دنگو كلكو ماڼيو كې وئ او چې كومه ښېگڼه ئې په برخه شي نو وايي: دا خو د الله له لوري ده، خو كه كړاو ئې په برخه شي نو وايي: دا خو له تا څخه دئ، ورته ووايه: ټول د الله له لوري دي، په دې خلكو څه شوي چې په هيڅ خبرې نه پوهېږي. له ښېگڼي چې څه ستا په برخه شي نو د الله له لوري ده او چې كړاو او ستونزه درورسېږي نو هغه پخپله ستا لخوا ده، ته خو مو خلكو لره يو استاځى لېږلى يې او الله د شاهد په حيث كافي دى.

په دې مباركو آيتونو كي لاندې لارښوونې زمونږ مخې ته ايښودلې شوې:

- ځيني خلك داسي وي چي له دښمن سره د جگړو د وخت له رارسېدو نه مخكي په جگړې ټينگار كوي او وايي: بايد له دښمن سره د يوې پرېكندي نښتي له لاري خبره پاى ته ورسوو او ستونزه د تل لپاره حل

کړو، خو دا ټينگار ئې له قوي ايمان او د الله په لار کي د قربانۍ له جذبې څخه نه وي راولاړ شوی، بلکي له بيمار زړه نه راخوټېدلی وي، په دې بې وخته ټينگار سره غواړي چي ځان مخلص او انقلابي وښيي او په خپلو غلطو عملونو او غلطلو ويناوو پرده واچوي او خلکو ته وښيي چي که اوس او د سختي ورځي له رارسېدو نه مخکي هغوی څه قصور لري او په عمل کي تر نورو شاته پاته دي او د خپلو ديني او مذهبي دندو په ادا کولو کي لټي کوي، چي کله په دې اړه اعتراض پرې وشي نو وايي: که له دښمن سره د نښتي او له دين نه د دفاع وخت راورسېدو نو مونږ به ترټولو مخلص ومومئ، زمونږ په اخلاص او صداقت به هلته پوه شئ چي په لومړي خط کي مو توره په لاس او مټي بروهلې وگورئ!! وبه گورئ چي تر هر چا مخکي يو او په لومړي خط کي د دښمن مقابله کوو، خو کله چي د جگړي اصلي وخت راورسېږي او په دې اړه صريح او واضح فيصله وشي او د قرآن صريح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي نو دا کسان به داسي ومومئ چي سخته وېره به ئې په څېرو کي ځرگنده وي، خړي سترگي د هغه چا په څېر چي د مرگ له وېري او هيبته بې هوشه شوی، له خلکو نه به داسي وېرېږي لکه له الله نه او حتی له خلکو نه به ئې وېره هومره وي چي له الله نه به دومره نه وېرېږي!!

- بيا به وايي: اوس خو د جگړي مناسب وخت نه دئ، ضروري وسائل نه دي برابر شوي، څه نور وخت ته ضرورت لرو، بايد جگړه وځنډېږي!!
- دوی جگړه او له دښمن سره مخامخ کېدل داسي گڼي لکه د مرگ په

لوري چي خوځول کېږي، لکه مرګ چي تيار دوی ته خپل کومی پرانيستی وي او د مرګ نېټه ئې رارسېدلې وي!! وايي به: خدای ولي مونږ ته د څه نوري مودې لپاره د ژوندي پاته کېدو موقع رانکړه او داسي ژر ئې له جګړو سره مخامخ کړو!!

- دې خلکو ته فقط يو ځواب په کار دئ او هغه دا چي: له دنيا سره افراطي مينه مو له مرګ نه وېروي، آخرت مو هېر کړی، دنيا ته په آخرت ترجيح ورکوئ، د همدې لپاره له مرګ نه وېرېږئ او له جنګ نه ډډه کوئ. د الله په عدالت باور نلرئ، ګمان کوئ چي الله به د مسلمانانو هلي ځلي او قربانۍ ضايع کړي، حال دا چي الله د وړې ذرې په اندازه هم په خپلو بندګانو ظلم نه کوي.
- په دې پوه شئ چي په کور کي ناستې سره او کلکو مورچلو او دنګو کلاګانو ته په پناه وړلو سره هم له مرګه نه شئ خلاصېدی، په هر صورت به د مرګ داعي ته لبيک وايئ.
- دا کسان داسي دي چي که ستاسو په څنګ کي ئې څه ښېګڼه په برخه شوه نو دا ستاسو د ملګرتيا نتيجه نه؛ بلکي په خپل ځان د الله پېرزوينه ګڼي، خو که له کومي ستونزي سره مخامخ شول نو دا ستاسو له لوري ګڼي، دوی ته ووايئ چي ښه او بد ټول د الله له لوري دي، دوی په دې نه پوهېږي چي د ښه او بد، خير او شر، ګټې او تاوان پرېکړه د الله له لوري کېږي.
- هره ښېګڼه د الله پېرزوينه ده، پام چي هغه د خپل عمل نتيجه ونه

ګڼئ، دا ځکه چي د نېک عمل توفيق هم د الله پېرزوينه ده.

- هر کړاو او ستونزه ستا د بد عمل او ګناه نتيجه ده، له ځان نه پرته بل څوک مه ملامتوه.
- د الله پېغمبر هم د خير او شر واکدار نه؛ بلکي د استازي په توګه لېږل شوی. الله په دې شهادت ورکوي چي خير، شر د ده له لوري دئ او ستا په عمل پوري تړلی دئ، د ده پېغمبر فقط د يوه امين استازي دنده تر سره کوي، د خير او شر واک او پرېکړه د ده په اختيار کي نه ده.

الله جل شأنه د هيڅ عامل عمل نه ضايع کوي، په دنيا او آخرت کي هر څوک د خپل عمل مکمل اجر تر لاسه کوي، ګمان مکوئ چي ستاسو عملونه به ضايع شي او په تاسو به ظلم وشي، دلته هم دې مطلب ته اشاره شوې چي په آخرت باندي ايمان لرونکي به د دنيا متاع قليله ګڼي، آخرت ته به ترجيح ورکوي او هغه به تر دنيا غوره ګڼي.

همدغه مطلب ته قرآن عظيم الشأن په بل آيت کي اشاره کوي او فرمايي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ٣٨ التوبه: ٣٨

اې مؤمنانو! څه درباندي شوي چي کله درته وويل شي: د الله په لار کي د جهاد لپاره ووځئ نو زمکي ته درانه کېږي؟! آيا د دنيا په ژوند د آخرت په

پرتله راضي شوي یاست "د دنیا ژوند ته مو د آخرت په نسبت ترجیح ورکړې" حال دا چي دنیوي ژوند د آخرت په پرتله له ناڅیزي متاع پرته بل څه نه دئ.

دا مطلب د هغو کسانو په ځواب کي ویل شوی چي کله ورته وویل شي: د الله په لاره کي د جهاد لپاره ووځي، نو هغوی د ځمکي طرف ته درانه کېږي، د دې په ځای چي په شور، ځوږ او شوق سره اوچت شي او وخوځېږي او په وتلو کي ئې پوره تحرک او نشاط وي، برعکس لټ او کسل وي، د ځمکي لوري ته درانه کېږي، په شور او شوق سره د الله په لاره کي نه خوځېږي، د همدغو کسانو په ځواب کي فرمايي چي آیا تاسو د دنیا په ژوند راضي شوي یئ او آخرت ته مو شا کړې؟ دنیا ته مو ترجیح ورکړی او هغه تر آخرته غوره ګڼئ؟ حال دا چي د دنیا ژوند د آخرت په تناسب نه دی مګر قلیله متاع.

یعني هغه څوک چي دنیا ته په آخرت ترجیح ورکوي، د هغه یوه علامه دا ده چي کله د الله په لار کي جهاد ته راوبللی شي، د ځمکي طرف ته درونډ شي او په شور شوق سره د الله په لاره کي د جهاد لپاره نه خوځېږي.

دا کسالت، لټي او د ځمکي طرف ته درنېدل، په شور، ځوږ او په شوق او رغبت سره د الله په لاره کي جهاد ته نه وتل، د نفاق علامه ده او له دغي عقیدې نه سرچینه اخلي چي انسان دنیا ته په آخرت ترجیح ورکړي.

## دنيا وسيله او آخرت هدف ګڼل

په آخرت د ايمان بله غوښتنه او تقاضا دا ده چي انسان به دنيا وسيله ګڼي او آخرت هدف او د دنيا امکانات به د آخرت هغه ستر هدف او سرمنزل ته د رسېدو لپاره د وسيلې په توګه کاروي. دنيا به د هغه لپاره هدف نه بلکي د سفر توښه وي. يعني هغه د يوه اوږده سفر لاروی دئ چي هدف او وروستي منزل ته د رسېدو هڅه کوي. دغه مطلب ته قرآن عظيم الشأن د يوه نېک بنده په قصې کي اشاره کوي چي خپل قوم د الله لوري ته بلي او ورته وايي: د دنيا ژوند خو له ناڅيزي متاع پرته بل څه نه دئ.

﴿ يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا مَتَٰعٞ وَإِنَّ ٱلۡأٓخِرَةَ هِيَ دَارُ ٱلۡقَرَارِ ٣٩ ﴾

غافر: ٣٩

اې زما قومه! خبره دا ده بله نه ده چي د دنيا دا ژوند متاع ده "د ګټې اخيستو او د استفادې لپاره فقط يوه وسيله او ذريعه ده " او د اوسېدو او قرار ځای د آخرت کور دئ.

د آل عمران په سوره کي هم دې مطلب ته داسي اشاره شوې:

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ وَٱلۡقَنَٰطِيرِ ٱلۡمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلۡفِضَّةِ وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ وَٱلۡحَرۡثِۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلۡمَـَٔابِ ١٤ قُلۡ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيۡرٖ مِّن ذَٰلِكُمۡۖ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي

مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞ وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ۱۵ آل عمران: ۱۴-۱۵

خلکو ته د مرغوبو شیانو، لکه ښځې، زامن، د سرو او سپینو زرو خزانې، ښښانمن آسونه، څاروي او د کر کښت مینه ښاېسته کړی شوي، خو دا ټول د دنیوی ژوند متاع ده او د الله خواته خو ډېر غوره د ټیکي ځای دی. ورته ووایه: آیا تر دې په غوره څه مو خبر کړم؟ متقیانو ته د دوی د رب خوا کې داسي جنتونه دي چې ترې لاندي ویالې بهېږي، تلپاته په هغه کې او پاکیزه جوړې او د الله رضا مندي او الله خو د خپلو بندګانو ښه لیدونکی دئ.

خلک هغه څه معیار ګڼي او د چا عزت او ذلت، ماتې او بریا او سعادت او شقاوت ورباندي تلي چې نفس ته مرغوب دي او د انسان نفس ئې خوښوي، لکه ښځې، زامن، د سرو او سپینو زرو خزانې، ښښاني شوي آسونه، د څارویو رمې او د کر کښت پراخي زمکې، خو دا نه هدف دئ او نه معیار، نه انسان د دې لپاره پیدا شوی او نه به د ده په اړه قضاوت د دې له مخې کېږي او نه به ئې مستقبل او راتلونکې د دې له مخې ټاکل کېږي، دا خو په حقیقت کې د ده لپاره پیدا شوي، د ده د ژوند متاع ده، نه هدف او نه هم معیار، د انسان لپاره معیار بل څه دئ، هغه چې الله تعالی ئې دلته په یوه لفظ کې راخلاصه کوي: تقوی: ځان ساتنه، له ظلم، ناروا، تېري، ګناه، عصیان او هر هغه څه نه چې د ده له انسانیت سره نه ښایي او له هر هغه څه نه چې ده ته تاوان رسوي. د ښه او بد او سزاء او جزاء فیصله خو راتلونکې ده، الله تعالی به د قیامت په ورځ دا فیصله کوي، هلته به د متقیانو

په مقام او منزلت پوه شئ، په دنيا کي خو تاسو هغه چا ته په سپکه سترگه کتل چي له خپل ملک نه شړل شوي، له مال او دولت نه محروم دي، نه بنگلې لري، نه لښکري او نه د سرو او سپينو زرو خزانې، خو په آخرت کي به وگورئ چي د الله په نزد کي ئې مقام څومره اوچت وو او په خپلي خوا کې ئې څنگه ځای ورته غوره کړی. تلپاتې جنت، چې تربنگلو او ونو لاندي ئې ويالې بهېږي، پاکيزه جوړې او تر هر څه اوچت د الله رضامندي. الله د خپلو بندگانو کړه وړه ليدلي، د دوی له وړتياوو خبر دئ، دوی ته به د خپلو وړتياوو مناسبه بدله ورکوي.

دا مطلب د اعراف د سورې په ۲٤ آيت کي په دې صيغه راغلی:

قَالَ ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٖ «الاعراف: ٢٤»

وئې فرمايل: کوز شئ، ځيني مو د ځينو نورو دښمنان او په زمکي کي تاسو ته تمځی او تر يوې نېټې گټه اخيستل دي.

يعني زمکه د انسان لپاره موقتي تمځی دئ، د دې هر څه د انسان د استفادې لپاره پيدا شوي، هر څه ته به د وسيلې په سترگه گوري نه د هدف په سترگه، دا به د هدف په لوري د سفر توښه گڼي، د هغو خلکو په څېر به نه وي چي په زمکي کي موقت استقرار لومړی او وروستی گڼي او همدا د څو ورځو موقت ژوند ته د لومړي او وروستي ژوند په سترگه گوري.

په دې اړه د شورى د سورې په ٣٦ آيت کي داسي لولو:

فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٣٦ الشورى: ٣٦

نو څه چي تاسو ته درکړی شوي "هر څه چي وي، د هر جنس او هري نوعي نه" دا د دنيوي ژوند د برخمن کېدو لپاره وسيله او ذريعه ده "دلته چي له نعمتونو نه کوم څه گورئ، دا به يو هم د هدف او مقصد په توگه نه نيسئ، دا ټول د دنيوی ژوند لپاره د متاع حيثيت لري" او هغه څه چي له الله سره دي هغه غوره او دائمي دي، د هغو لپاره دي چي ايمان ئې راوړی او پر خپل رب توکل کوي.

يعني د دنيا نعمتونه فنا کېدونکي دي، د متاع حيثيت لري، د دې لپاره درکړی شوي چي په خپل محدود دنيوی ژوند کي گټه ترې واخلې، خو هغه څه چي د الله په خوا کي دي هغه غوره او دائمي دي او د هغه چا په برخه کېږي چي پر الله ايمان لري او پر هغه توکل او اعتماد کوي.

## له مرگه نه وېرېدل

په آخرت د ايمان بله تقاضا دا ده چي انسان به له مرگه نه وېرېږي، نه يوازي دا چي له مرگه به وېره نه لري؛ بلکي د الله په لاره کي مرگ به د هغه تر ټولو اوچته تمنا او هيله وي.

قرآن عظيم الشأن د صحابه وو په اړه فرمايي چي د هغوی هر يوه د الله په لاره کي د شهادت تمنا کوله:

وَلَقَدۡ كُنتُمۡ تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ فَقَدۡ رَأَيۡتُمُوهُ وَأَنتُمۡ

تَنظُرُونَ ۱٤۳ آل عمران: ۱٤۳

او يقيناً چې تاسو له دې نه مخكې چې له مرګ سره مخامخ شئ د هغه تمنا مو كوله، نو دا دئ ومو ليدو په داسې حال كې چې ورته كتل مو.

ګورئ چې دلته له مرګه نه وېرېدل او د الله په لار كې د شهادت تلوسه، د ايمان نښه ګڼل شوې او د پېغمبر عليه السلام ټولو صحابه وو ته په خطاب كې ويل شوي چې تاسو ټولو د شهادت تمنا كوله، په دې مبارک آيت كې څو مهمې خبرې توجه غواړي:

- صحابه وو د شهادت تلوسه درلوده.
- د احد په جګړې كې ئې د دې تمنا د تر سره كېدو فرصت ترلاسه كړ.
- د دې صحنې د نظارې په ځای بايد له هغې نه د خپل آرمان د ترسره كېدو په اړه استفاده شوې وی.

پيغمبر عليه السلام فرمايي: قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په اختيار كې دئ چې زه دا خبره تر ټولو غوره ګڼم، دا ماته تر ټولو محبوبه ده چې د الله په لار كې ووژل شم، بيا ژوندی شم، بيا ووژل شم، بيا ژوندی شم، بيا ووژل شم.

ګورئ چې هغه د الله په لار كې په وار وار او څو ځله شهادت غواړي، په يوه شهادت ئې زړه نه تسل كېږي؛ بلكې د مسلسل شهادت تمنا كوي.

قرآن عظيم الشأن فرمايي چې: په هغه قوم كې به د شهادت تلوسه او

هیله مري چي په آخرت ایمان نه لري، د بنې اسرائیلو په اړه فرمايي:

﴿قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلْآخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُا۟ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ٩٤ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ٩٥ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٍ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ ۚ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِۦ مِنَ ٱلْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ٩٦﴾

البقره: ۹۴ ـ ۹۶

ورته ووایه: که د الله په خوا کي، د آخرت کور، له خلکو نه پرته یوازي ستاسو لپاره وي نو د مرگ تمنا وکړئ که رښتیني یاست. او په خپلو لاسونو ئې چي څه وړاندي کړي د هغه په وجه به هیڅکله د مرگ تمنا ونکړي او الله په دې ظالمانو ښه پوه دی. او دوی به تر ټولو زیات په ژوند حریص ومومې او له مشرکانو نه هم، هر یو ئې دا خوښوي چې کاش زر کاله عمر ورکړی شي، خو همدا د عمر اوږدوالی له عذاب نه د دوی ژغورونکی نه دئ او الله د هغه څه ډېر ښه لیدونکی دئ چي دوی ئې کوي.

دلته د بني اسرائیلو په اړه ویل شوي چي سره له خپل ټول شرک، عصیان، له جهاد نه ډډه، د ظالمانو ملگرتیا او د پېغمبرانو او حقپالونکو مخالفت، گمان ئې کاوو او مذهبي مشرانو ئې ورته همدا ویلي وو چي جنت یوازي ستاسو لپاره پیدا شوی او تاسو د جنت لپاره، د دوی په ځواب کي ویل شوي: که داسي وي نو تاسو خو باید له مرگه نه وېرېدئ او د الله په

لار کي د شهادت تلوسه مو په زړونو کي نه وی مړه شوې، دا ولي له مرګه وېرېږئ؟ دا ولي ستاسو هيڅ مذهبي مشر په سنګر کي نه دئ ليدل شوی؟ ولي مو تل خپل پېغمبران په جهاد کي يوازي پرېښي؟ له دې نه خو په ډاګه معلومېږي چي په خپلي دعوی باور نه لرئ. په دې آيتونو کي او دې ته ورته په ډېرو نورو کي له مرګه وېره، د ډېر اوږد ژوند تمنا او د الله په لار کي له شهادت نه ډډه، د هغه قوم نښي ګڼل شوې چي د ايمان په دعوی کي دروغجن دي، نه په آخرت او جنت باور لري او نه په دې چې د مرګ ژوند پرېکړي الله کوي.

که رښتيا تاسو په آخرت ايمان لرئ او د آخرت کور ستاسو لپاره مختص وي ، ولي په تاسو کي د شهادت تلوسه او هيله مړه شوې او ستاسو هر يو د اوږده ژوند تمنا کوئ. د خپلو بدو عملونو په وجه د شهادت تلوسه د دوی په زړونو کي مړه شوې، د بدو کارونو په وجه به هيڅکله د شهادت تمنا ونه کړي، يعني ګناه، فساد، جرم او خيانت دا د دې باعث شي چي انسان له مرګه ووېرېږي او آخرت ته ئې څه اميد نه وي، د آخرت په اړه نااميدي پخپله په انسان کي د شهادت جذبه وژني.

الله تعالی چي د يهودو په اړه کوم قضاوت کړی دا په علم مبتني قضاوت دئ، الله تعالی د دغو ظالمانو په حال ښه پوه دئ، د دې وجه چي ولي په دوی کي د شهادت جذبه ختمه شوې، الله ته څرګنده ده، خپلو بدو عملونو دوی له آخرته نا اميده کړي او په دې خاطر په هغوی کي د شهادت جذبه مړه شوې.

د همدې په وجه به دوی د دنیا په ژوند تر هر چا زیات حریص ومومې، تر مشرکانو هم زیات، یا ئې معنی دا ده چې له مشرکانو څخه به هم ځيني داسي وموموې چې په ژوند ډېر زیات حریص وي، هر يو د ئې غواړي چي کاش زرکاله عمر ورکړی شي، خو دوی په دې نه پوهېږي چي دا اوږد عمر دوی له الهي عذابه نشی ژغورلی او الله په هغه څه چي دوی ئې کوي بصير دئ، د دوی معامله له هغه ليدونکي او بصير خدای سره ده چي د دوی د ټولو عملونو په نسبت علم لري، دا طولاني عمر دوی د الله له عذابه نشي ژغورلی.

ګورئ! د شهادت تمنا په چا کي ختمه شوې؟ څوک به له مرګه وېرېږي؟ او څوک به د اوږده ژوند تمنا کوي؟ هغه چي خپل آخرت ته څه هیله نه لري، داسي عملونه ئې کړي چي د هغه په وجه له آخرته نا امیده شوي او په دې ترتیب ئې په آخرت باور او یقین کمزوری شوی، له مرګه وېره ئې په زړه کي راولاړه شوې او د شهادت تلوسه ئې په زړه کي مړه شوې، داسي څوک به هیڅکله د مرګ تمنا و نه کړي، برعکس د طولاني عمر غوښتونکی به وي او تر هر چا به د دنیا د ژوند په نسبت زیات حریص وي. په بل ځای کي له مرګه وېرېدونکو ته په دې صيغه خطاب شوی:

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ٥٧ العنكبوت:٥٧

هر نفس (ژوی) د مرګ خوند او ذائقې څکونکی دئ، بیا زموږ لوري ته بېرته راګرځول کېږئ.

دا خطاب هغو کسانو ته متوجه دئ چي وېري اخستی او ګمان کوي

چي که له وطنه د هجرت هڅه وکړي ښايي د دښمن له لوري ووژل شي، هر څه به ترې پاته کېږي، نو د رزق او روزي انتظام به ئې څنګه کېږي؟ د دوی د دغو اندېښنو په ځواب کي ويل شوي چي هر نفس د مرګ څکونکی دئ، خامخا او په هر صورت کي به انسان مري، کوم ذی نفس او ذيروح دی چي هغه به يوه ورځ د مرګ خوند نه څکي؟ چي انسان په هر صورت کي مري نو ولي د يوه ستر او لوړ مقصد په لار کي ونه مري، په ځای د دې چي هسي مري او د هيڅ لپاره مري، ولي د الله په لار کي ونه مري؟ په دې دليل هم له مرګه وېره نه ده په کار چي ستا مسير د الله جل شأنه په لوري دئ، په مرګ سره د خپل رب خوا ته بېرته ګرځې، هغه الله چي ته ئې عبادت کوې، هغه ستا د ژوند مطلوب او مقصود دئ، هغه ستا معبود دئ، د مرګ په نتيجه کي د هغه طرف ته درومې. مرګ د ژوند پای نه دئ چي له هغه ووېرېږې، بلکي مرګ د نوي ژوندون پيل دئ، مرګ له يوې دنيا بلې ته د تګ ذريعه ده، مرګ تا خپل هدف ته رسوي، تا خپل مطلب ته رسوي، نو د څه لپاره بايد له مرګ نه ووېرېږې؟

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ غُرَفٗا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ نِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ٥٨

العنکبوت:٥٨

او هغه چي ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، حتماً به ئې د داسي جنتونو په خونو او قصرونو کي ځای په ځای کړم چي ترې لاندي ويالې

بهېږي، د تل لپاره به په هغه کي وي، د عمل کوونکو اجر څومره غوره دئ.

الله جل شأنه په دې آيت کي فرمايي چي په دې خاطر هم له مرگه وېره نه ده په کار چي چا ايمان راوړی او صالح عملونه ئې کړي او په دې لار کي له ستونزو سره مخامخ شوي او يا په مرگ محکوم شوي که هغه په دې لار کي د ختېو کور له لاسه ورکوي، د دې په بدل کي به د جنت ستري، ستري او دنگي، دنگي بنگلې تر لاسه کوي، چي د ونو او قصرونو لاندي به ئې ويالې بهېږي، که دنيا له لاسه ورکړي، جنت درکوي او په هغه کي داسي قصرونه چي ترې لاندي به ئې ويالې بهېږي، که د څو شپو ورځو محدود ژوند له لاسه ورکوي، د دې په عوض کي الله جل شأنه د جنت ابدي، دائمي او تلپاتې ژوند ورکوي. د دنيا د ژوند په مقابل کي د جنت ژوند، د ختېو د کورونو په مقابل کي د جنت قصرونه او د دنيا په مقابل کي جنت، دا خو هغه شيان دي چي ته ئې پېژنې، خو لدې نه آخوا چي کوم څه په جنت کي انسان لره مهيا شوي، سترگو نه دي ليدلي، انسان د هغه خوند او ذائقه په خپل ژوند کي نه ده څکلې، داسي خوندورې منظرې او غږونه چي د چا په ذهن کي ئې خطور نه دئ کړی او د انسان له تصور او وهم نه ډېر لوړ او اوچت دئ، نو په داسي حال کي چي ته هر څه له لاسه ورکوې، الله جل شأنه تر هغه غوره په عوض کي درکوي، ولي بايد له مرگه ووېرېږې؟ معقوله نه ده چي انسان دي په آخرت ايمان ولري او هغه دي له مرگه ووېرېږي.

قرآن په بل ځای کي دغه مطلب د یوه مؤمن ټولګي په قصې کي زموږ مخي ته ږدي چي کله په مرګ تهدید شول او دښمن په اعدامولو ووېرول؛ د دښمن د ګواښ په ځواب کي ئې په پوره ډاډ، اطمئنان او مېړاني وویل: که په دې لار کي وژل کېږو هیڅ پروا ئې نشته. د موسی علیه السلام د قصې په دې برخي کي دا ډله او د دوی دا مېړانه او شهامت زموږ مخي ته ږدي چي فرعون د موسی علیه السلام مقابلي ته سحره راغونډ کړل، مسابقه پیل شوه، جاودوګران مات شول، د موسی علیه السلام د دعوت په حقانیت پوه شول، ایمان ئې راوړ، خپل ایمان ئې اعلان کړ، فرعون په مرګ تهدید کړل او ورته وئې ویل: آیا زما له اذن او اجازې نه د مخه مو ایمان راوړ؟

قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ۴۹ الشعراء: ۴۹

وئې ویل آیا مخکي له دې چي اجازه درکړم د هغه په خبره مو باور وکړ او ایمان مو راوړ؟ یقیناً چي دا حتماً ستاسو هغه مشر دئ چي جادو ئې درښودلې، اوس به وپوهېږئ (چي څه درسره کوم) حتماً به ستاسو لاسونه او پښې بدل رابدل پرې کوم او هرومرو به ټول په دار ځوړوم.

دا په داسي حال کي چي تر دې نه مخکي ئې ولس ته ویلي وو: ولي د موسی په ځای د خپلو سحره او جادوګرانو متابعت ونه کړو، مخصوصاً که

له موسی (علیه السلام) سره په مقابله کي فاتح او غالب شي؟ ولي خپل دین پرېږدو؟ ولي د موسی (علیه السلام) قیادت او مشري ومنو؟ چي د بل چا قیادت او مشري منو ولي د خپلو مذهبي مشرانو (جادوګرانو) قیادت او مشري ته تسلیم نه شو؟ خوکله چي جادوګران د موسی علیه السلام د دعوت په حقانیت پوهېږي او ایمان راوړي، فرعون ئې په مرګ تهدیدوي او ورته وایي: اوس به وپوهیږئ چي ستاسو عاقبت به څه وي. د لاس او پښې په قطع کولو او په دار خېژولو تهدید کېږي خو وګورئ چي د دې تهدید او تخویف په مقابل کي د دوی ځواب څه دئ؟ حال دا چي له ایمان راوړو څو شېبې مخکي د فرعون په اشاره د موسی علیه السلام مقابله کوي، طمعه ئې دا ده چي فرعون اجر ورکړي او په دې خوښ او ډاډه دي چي فرعون ورته ویلي: حتماً به تاسو ته بدله درکوم او په هغه صورت کي به دربار ته مقرب وئ، ګورئ چي طمعه ئې له فرعونه، د فرعون په امر راغونډ شوي، د موسی علیه السلام مقابله کوي، د اجر طمعه ئې له فرعون څخه، په دې قانع کېږي چي که کامیاب او غالب شي نو د فرعون د دربار مقرب به وي، د درباریانو په فهرست کي به نیول کېږي، خو کله چي ایمان راوړي، په دې تهدید کېږي چي لاس او پښې به ئې قطع کېږي او په دار به خېژول کېږي، خو ډاډه او مطمئن دي او د فرعون د تهدید په ځواب کي وایي:

قَالُواْ لَا ضَيۡرَۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ۝ الشعراء: ٥٠

وئې ویل: باک ئې نشته یقیناً چي موږ د خپل رب طرف ته بېرته ګرځو.

يعني په دې خبرې ايمان لري چې د مرګ په نتيجه کې د خپل رب طرف ته ځي، په همدې خاطر له مرګه نه وېرېږي او وايي: پروا ئې نلرو.

ګورئ چې کاملاً بېباک دي او له مرګه وېره نه لري او مزيد وايي:

إِنَّا نَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَٰيَٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٥١

الشعراء: ٥٠

موږ له خپل رب نه د دې طمعه لرو چې ګناهونه مو راوبخښي، د دې لپاره چې لومړني مؤ منان يو.

ګورئ چې نه يوازې له مرګه ئې وېره ختمه شوې، بلکې د پرون ورځې مادي طمعه ئې په معنوي تلوسې بدله شوې، اوس په دنيا کې له هيڅا هيڅ طمعه نه لري، يوازې له يوه الله نه طمعه لري. دا د ايمان نتيجه ده، له ايمانه مخکې د هغوی حالت وګورئ او له ايمانه وروسته، توپير ئې دومره لکه زمکه او آسمان.

قرآن د دغې قصې په ترڅ کې موږ ته وايي چې په آخرت د ايمان اغېز داسې دئ، له مرګه د انسان وېره ختموي، له ماسوی الله نه د انسان طمعه ختموي، نه يوازې دا چې وېره به ئې پای مومي؛ بلکې د الله په لار کې مرګ به ئې تر ټولو ستره تمنا او هيله وي، مادي طمعه به ئې په معنوي تلوسې بدلېږي.

## ډاډ او اطمئنان:

په آخرت د ايمان بله تقاضا دا ده چې انسان به هيڅکله د خپلو کړو

وړو او هلو ځلو د نتايجو په اړه تشويش نلري، په دې به ئې کلک باور وي چي د خپلو هلو ځلو نتايج حتماً او په هر صورت کي ترلاسه کوي، که احياناً په دنيا کي ترې محروم شو نو په آخرت کي به ئې په بشپړه توگه ترلاسه کوي، د همدې لپاره هغه هيڅکله نه مأيوس کېږي، په داسي حال کي چي ته په دې باور لرې او مطمئن يې چي د خپلو ټولو کړو وړو مکمل اجر به پرته له کموالي او ضياع، ځو ځو برابره تر لاسه کوې او ستا اجر د الله تعالى په خوا کي خوندي او محفوظ دئ، هيڅوک ئې نشي ضايع کولی او هيڅوک ئې نشي کمولی، دا باور په خپله د دې باعث شي چي انسان په هيڅ صورت کي مأيوس نشي، تر سختو نه په سخت حالت کي مطمئن او ډاډه وي، ځکه هغه د خپل عمل له نتيجې مطمئن وي، انسان په هغه صورت کي مأيوس کېږي چي گمان وکړي عملونه ئې بې نتيجې پاته شوو، د هغه هڅي حبط او ضايع شوې، خو چي انسان په دې ډاډه او مطمئن وي چي د خپلو عملونو او هلو ځلو اجر حتماً تر لاسه کوي، هغه په هيڅ صورت کي نه مأيوسه کېږي. عدم يأس، په آخرت باندي د ايمان نتيجه او د هغه غوښتنه او تقضا ده.

قرآن عظيم الشأن په دې اړه فرمايي:

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَلِقَآئِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يَئِسُواْ مِن رَّحۡمَتِي وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢٣ العنكبوت: ٢٣

او هغه چي د الله په آيتونو او له هغه سره په مخامخ کېدو باندي کافران شوي، همدا دوی زما له رحمته مأيوس شوي، دې ډلي ته دردناک عذاب

دئ.

## جنت د چا لپاره؟

قرآن موږ ته لارښوونه کوي او دا حقیقت راښیي چې د آخرت غوره مقام به د چا په برخه کېږي؟ څوک به ئې ترلاسه کوي؟ لکه چې فرمایي:

تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْـَٔاخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ وَٱلْعَـٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ٨٣ القصص: ٨٣

دا د آخرت کور مو د هغه چا لپاره ګرځولی چې په زمکه کې نه لویي غواړي او نه هم فساد او غوره پایله او نېک عاقبت د همدغو پرهېزګارانو دئ.

دا مبارک آیت موږ ته وایي: د آخرت غوره مقام به هغه څوک ترلاسه کوي چې دا دوه صفتونه لري: خپله لویي نه غواړي او په زمکې کې فساد نه کوي، هغه چې د تکبر او لویي په ځای له الله تعالی وېره لري او د خپل رب په وړاندې خشوع او خضوع لري او هغه چې په زمکې کې فساد نه غواړي، یعني د ژوند مقصد ئې دا نه دئ چې پر نورو لویي تر لاسه کړي او د لویي او تکبر دغه کرکجن احساس ئې په زمکې کې د فساد خورولو ته وهڅوي؛ بلکې هغه له دې دواړو څان ساتي، دا متقیان به د آخرت غوره مقام ترلاسه کوي، دوی ته نېکه پایله انتظار کوي.

## د عمل او اجر ورته والی

قرآن عظیم الشأن موږ ته لارښوونه کوي چي د آخرت اجر به د انسان د دنیا عمل ته ورته او مشابه وي، یعني ته چي په دنیا کي هر څه کوې، په آخرت کي به ئې ورته بدله او سزا ترلاسه کوې، د آخرت اجر او عذاب به په دنیا کي ستا عمل ته ورته وي، لکه چي د اسراء د سورې په ۷۲ آیت کي لولو:

وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ٧٢

الاسراء:۷۲

او څوک چي دلته "په دې دنیا کي" ړوند وو، هغه به په آخرت کي هم ړوند او تر دې زیات تېروتی او لاروركی وي.

یعني چا چي په دنیا کي په پټو سترګو ژوند وکړ، له خپل بصیرت او سترګو ئې هغه کار وانه خیست چي ورسره ښایي، نه ئې د دنیا له پېښو او حوادثو عبرت او پند واخیست او نه ئې په عالم کي د عبرت نښو ته اعتناء وکړه، د ټولو هغو نښو له خوا د ړندو په څېر تېر شو چي انسان ته د خپل رب په لوري بلنه ورکوي او په آخرت ایمان ته ئې بلي، په دنیا کي ئې د ړانده په څېر ژوند وکړ، په آخرت کي به هم ړوند حشر کېږي، چا چي په دې دنیا کي له بصیرته محروم وو، د دنیا له عبرتناکو پېښو او صحنو ئې پند او عبرت وانه خیست، په عالم کي دې دقیق نظم، یووالي او هدفمندي د الله طرف ته هدایت نه کړ، ړوند پاته شو، د ړندو په شان ئې ژوند و کړ، هغه به په آخرت کي ړوند حشر کېږي، لکه په دنیا کي چي تېروتی او لاروركی وو، د سمي لاري له پېژندو عاجز او په سمي لاري له تلو بې زاره وو هلته

به تر دې زيات تېر وتی او لارورکی وي، د جنت په لوري به لار نشي موندلی، د دوزخ په لوري به درومي او د جهنم په کندو کي به سقوط کوي، لکه څنګه چي هغه په دنيا کي لار ورکه کړې وه، په آخرت کي به هم له هغه نه لار ورکه وي، لکه څنګه چي هغه په دنيا کي د ړندو په څېر ژوند کړی، په آخرت کي به هم ړوند وي.

همدا راز فرمايي:

وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤ طه: ١٢٤

او چا چي زما له ذکره اعراض او ډډه وکړه نو يقيناً چي تنګ او ضيق ژوند به ئې په برخه وي او د قيامت په ورځ به ئې ړوند حشر کړو.

يعني چا چي په دنيا کي د الله تعالى له ذکر او يادولو او د الهي کتاب له پند او لارښوونو ډډه وکړه، الله جل شأنه ئې هېر کړ، د ړندو په څېر ئې ژوند وکړ، د هغه دنيايي ژوند به له تنګۍ، اضطراب، پرېشانۍ او تشويش سره توأم وي، هغه به د واقعي اطمئنان او آزادۍ مخ ونه ګوري، په اختناق او وحشت کي به ژوند کوي، که څه هم له زياتو امکاناتو برخمن وي، ډېر وسائل، ذرايع او امکانات ئې په واک کي وي، خو زړه به ئې ډاډه نشي، تل به مضطرب او پرېشانه وي. د انسان ترټولو لويه شتمني د زړه ډاډ او اطمئنان دئ، هغه به له دې شتمنۍ محروم وي، وسائل، بنګلې، مال، دولت او شتمني انسان ته د زړه اطمئنان نشي ورکولی، دا د الله تعالى ذکر او يادونه ده چي انسان ته اطمئنان ورکوي او زړه ئې ډاډه کوي، چا چي د الله

له ذکر او یاده ډېره وکړه، په دې معنی چې الله ورپه یاد نشو او کوم کتاب چې الله تعالی نازل کړی هغه ئې خپل لارښود نکړ، د هغه په رڼا کې ئې ژوند ونه کړ، هغه د ده د لارې ډېره او د ژوند په ټولو برخو کې لارښود نه وو او د هغه له منلو ئې ډډه وکړه، د دې اجتناب په وجه به په دنیا کې مضطرب او پرېشانه ژوند لري او د قیامت په ورځ به ړوند حشر کېږي.

قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيٓ أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا ١٢٥ طه: ١٢٥

هلته به وایي: اې زما ربه! ولې دې ړوند حشر کړم په داسې حال کې چې سترګه ور وم.

قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلْيَوْمَ تُنسَىٰ ١٢٦ طه: ١٢٦

الله تعالی به وفرمایي: همدا راز زما آیتونه درغلل خو تا هېر کړل "هغه دې ونه منل" نو همداسې به نن هېر کړی شې.

لکه تا چې د الله آیتونه هېر کړل، پند او عبرت دې ترې وانه خیست، همداسې به الله تعالی نن تا ته التفات نه کوي، تا ته به توجه او اعتناء نه لري، دا ځکه چې تا د هغه آیتونو ته اعتناء او توجه ونه کړه.

همدا راز قرآن د هغو کسانو په اړه ډېره عبرتناکه وینا لري چې د الله آیتونه د ناڅیزې متاع په بدل کې پلوري، یا په دې معنی چې په الهي آیتونو په دې خاطر عمل نه کوي چې ګمان کوي دا به ئې له کوم خطر سره مخامخ کړي، ژوند او دنیایي ګټو ته به ئې صدمه ورسېږي، نو ځکه په دغو الهي

لارښوونو له عمل کولو ډډه کوي او په دې توګه خپلو دنيوي ګټو ته ترجيح ورکوي او د الله آيتونو ته شا کوي او يا په دې معنی چې د څه قليلي متاع په مقابل کي ناروا او غلطي او د الهي لارښوونو خلاف فتواګاني ورکوي، د الله آيتونه پټوي، حق او باطل سره ګډوي، فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشۡتَرُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَأَيۡمَٰنِهِمۡ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيۡهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٧٧ آل عمران:٧٧

يقيناً هغه چې د الله په عهد او په خپلو قسمونو لږ بيه پېري، دوی ته به په آخرت کي هيڅ برخه نه وي او د قيامت په ورځ به نه الله ورسره تکلم کوي او نه به ورته نظر کوي او نه به ئې پاکوي او دوی لره به دردناک عذاب وي.

يعني هغه کسان چې له الله تعالی سره په خپل عهد او ژمني وفا نه کوي او الهي حکم او دستور ته غاړه نه ږدي، (عهد هغه حکم او دستور ته هم وايي چې د پاچا له لوري د رعيت په نامه صادرېږي) او هغه چې د خپلو قسمونو په مقابل کي قليله متاع تر لاسه کوي، دوی لره په آخرت کي هيڅ برخه نشته، دا ځکه چې هغوی خپله دنيوي برخه تر لاسه کړې، د څه لپاره چې دوی د الله تعالی عهد او خپل قسمونه پلورلي وو هغه ئې په دنيا کي تر لاسه کړل، نو ځکه به په آخرت کي د دوی لپاره هيڅ برخه نه وي. الله تعالی به له دوی سره تکلم ونه کړي، لکه څنګه چې دوی د الله د کتاب په

آیتونو تکلم نه وو کړی، په دنیا کي ئې خلکو ته نه وو بیان کړی، هغه ئې کتمان کړی او پټ کړی وو، الله جل شأنه به هم د قیامت په ورځ له دوی سره تکلم و نه کړي. دوی ته به و نه گوري، دوی هم په دنیا کي د الله آیتونو ته ونه کتل، د دې الهي حکم ستروالی او عظمت ته ئې ونه کتل، د خپلو مسئولیتونو لوی والي ته ئې التفات او اعتناء ونه کړه، الله جل شأنه به هم دوی ته د قیامت په ورځ د رحمت په نظر و نه گوري. او پاک به ئې نه کړی، د گناه پېټي به ترې کوز نه کړي، د دوی لمن به د گناهونو له هغو گنده داغونو پاکه نه کړي چي په دنیا کي ئې پرې لړلې وه، دوی د علماوو او پیغمبر علیه السلام د ورثه وو په توگه مکلف وو چي اجتماع له مفاسدو او مظالمو پاکه کړي، د خیر طرف ته بلنه ورکړي، امر بالمعروف او نهی عن المنکر وکړي، دا د دوی دیني مسئولیت وو، خو هغوی دا د تزکیې دنده ترسره نه کړه، په ټولنه کي د مفاسدو او مظالمو په خلاف اوچت نه شول، د فساد او ظلم په ضد ئې غږ پورته نه شو، مقابله ئې و نه کړه، اجتماع او ټولنه ئې له مفاسدو اومظالمو نه پاکه نه کړه، الله جل شأنه به هم هغوی له گناه نه تزکیه او پاک نه کړي، دوی ته به عفوه و نه کړي او په گناهونو بار به د دوزخ طرف ته درومي. او دوی لره به دردناک عذاب وي، دا ځکه چي دوی مکلف ول د مظلومانو مرسته وکړي، هغوی ته لاس ورکړي، له ظلمه ئې وژغوري، خو دوی دا کار ونه کړ، په دې خاطر به د قیامت په ورځ دوی ته همدا راز دردناک عذاب وي.

د البقرې د سورې په ۱۷٤ آیت کي هم دې مطلب ته اشاره شوې چي

د آخرت عذاب به د دنیا د عمل سره ورته وي، لکه چې فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَشۡتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ١٧٤ البقره: ١٧٤

يقيناً هغه کسان چې د الله کوم نازل کړی کتاب پټوي او لږ بيه پرې پيري، نو دا ډله له اور نه پرته بل څه په خپلو ګېډو کې نه خوري ( نه اچوي) او الله به نه د قيامت په ورځ ورسره خبرې کوي او نه به ئې پاکوي او دوی ته به دردناک عذاب وي.

يعني چا چې د الله د کتاب له بيانولو ډډه وکړه، د کومې دنيوي ګټې لپاره ئې د الله د کتاب کوم څه پټ کړل، د ظلم او فساد په خلاف ئې غږ اوچت نه کړ، له جهل او شرک نه د خلکو د ژغورنې لپاره ئې جهاد ونکړ، يا د دې لپاره چې ژوند او مال متاع ئې په خطر کې ونه لوېږي او يا د دې لپاره چې په دې کتمان سره له ظالمو واکمنانو څه ترلاسه کړي، نو د قيامت په ورځ به الله تعالی له ده سره تکلم نه کوي، همغسې لکه چې ده د الله په کتاب تکلم نه وو کړی، له ګناه به ئې پاک نه کړي، همغسې لکه چې ده له فساد سره مقابله نه وه کړې او ټولنه ئې له ظلم او شرکه نه وه پاکه کړې، ده ته به دردناک عذاب وي، همغسې لکه چې ده مظلومان په دردناکو عذابونو کې يوازې پرېښې وو، څه چې په دې سکوت او مداهنت ترلاسه کوي په اصل کې د دوزخ اور دئ چې په خپلې ګېډې کې ئې اچوي،

دوی د هدایت په ځای ضلالت غوره کړی او د مغفرت په ځای الهي عذاب، د الله له کتاب څخه د دوی هر اختلاف له حق او حقیقت نه اختلاف دئ.

له ناڅیزي بیي څخه یا مقصد دا دئ چي که دا ډله د دې شنیع عمل په مقابل کي هر څه تر لاسه کوي، هغه قلیله بدله او ډېره کمه بیه ده او یا ئې مطلب دا دئ چي دا خلک په ډېر کم قیمت اخستل کېږي، دا کار د ډېرئ قلیلي اجورې په مقابل کي کوي، د دوی او د فتواګانو قیمت ئې ډېر ارزان دئ، دغه کسان چي ما انزل الله پټوي او د الله د کتاب له تبلیغ، ارشاد او خلکو ته ئې له رسولو نه ډډه کوي او د هغه په مقابل کي څه تر لاسه کوي، په ډېر کم قیمت سره اخستل کېږي، د دوی او د دوی د فتواګانو بیه ډېره کمه ده.

دا مطلب هغو کسانو ته هم متوجه دئ چي د قلیلي متاع په مقابل کي حق پټوي، غلطي فتوی ګاني ورکوي او د واکدارانو ناروا کړني او اقدامات توجیه کوي او هغو کسانو ته هم متوجه دئ چي په دې خاطرحق پټوي او له څرګندولو ئې ډډه کوي چي کومه صدمه ورونه رسېږي، له مأموریته منفک نشي، زندان ته ولاړ نشي او کاذب عزت او واهي اعتبار ته ئې صدمه و نه رسېږي.

## څوک به قیامت نه مني؟

قرآن عظیم الشأن موږ ته دا هم ښیي چي د قیامت تکذیبوونکی څوک دئ او ځانګړتیاوي ئې کومي؟ د کومو خصلتونو په وجه انسان له قیامته انکار کوي او راتګ ئې محال ګڼي؟ لکه چي فرمایي:

ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ١١ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ١٢ المطففين: ١١-١٢

هغه چې د سزا ورځ دروغجنه ګڼي. او دروغجنه ئې نه ګڼي مګر هر تېرى کونکى ګنهګار.

په دې مبارکو آيتونو کي د مطففينو څو کرکجن خصلتونه په ګوته شوي:

الف: دوى دروغجن دي، د نورو په اړه په خپلو دروغجنو قضاوتونو سره د تطفيف جرم او ګناه کوي.

ب: نه يوازي د نورو په باب دروغ وايي، افتراء کوي او په عزت او حيثيت ئې تېرى کوي، بلکې (يوم الدين) هم تکذيبوي او دروغ ئې ګڼي.

ج: (تعدي: تېرى) او (اثم: ګناه) دوى هغه ځاى ته رسولي چې (يوم الدين: د سزا ورځ) دروغ وګڼي، يعني دوى په دې وجه له آخرت او د عملونو له مکافات او مجازات نه انکار نه کوي چې کافي، قانع کوونکي او معقول دلايل ورته نه لري، بلکې وجه ئې دوه نوري خبري دي: يوه ئې دا چې دوى په خپل حق او حد قانع نه دي، مخکې ئې د بل په حق تېرى کړى او په راتلونکي کي هم د تېري اراده لري او بله ئې دا چې په ګناهونو لړلي دي، تر دې مخکې ئې هم ګناهونه کړي او له دې وروسته هم د ګناه اراده لري، دغه (تېرى) او (ګناه) له آخرته د دوى د انکار لاملونه دي.

د دې آيت په وړاندي چې وايي فقط (معتد) او (اثيم) له آخرت او الهي

محاسبې انکار کوي، باید لږ توقف وکړو او وګورو چي دا څنګه او ولي یوازي تېری کوونکی او ګناهګار له الهي محاسبې انکار کوي؟!! څنګه تېری او ګناه انسان هغه ځای ته رسوي چې د مکافات او مجازات حقیقت ونه مني او آخرت دروغ وګڼي؟!! له دې آیته معلومېږي چي د تېري کوونکي او ګناهګار انسان لپاره په آخرت نه باور او له الهي محاسبې انکار، ذهني محرک لري نه عقلي دلیل، هغه له داسي ستونزي سره مخامخ دئ چي باید ځان ته دا خبره تلقین کړي چې نه آخرت شته، نه حساب او کتاب او نه مکافات او مجازات، دی قیامت د ځان لپاره یوه خطرناکه پېښه ګڼي، چي عواقب او پایلي به ئې ده ته ډېري دردناکي وي، په آخرت د باور تصور ئې سخت ځوروي، ناچار باید په دروغجنو تلقینونو سره له دې اضطراب او پرېشانۍ ځان وژغوري، انسان عادتاً په اغفالوونکو او غولوونکو تلقینونو سره محتمل خطر نفي کوي او په دې سره ځان له ذهني اضطراب او پرېشانۍ ژغوري. دا د ګنهګار لپاره یوه رواني مسئله ده چي له قیامته به انکار کوي، لکه ته چي په یوې خطرناکي لاري درومې، د تلو پخه اراده دي کړې، که څه هم په لاري کي خطر دئ، خو ته حتماً هدف ته ځان رسول غواړې، نو له ځان سره دوکه کوې، ځان ته دا تلقین کوې چي خطر نشته، همدغه راز به د قیامت ورځ هغه څوک دروغ ګڼي، چي معتد او اثیم وي. هغه که د قیامت په ورځ باور وکړي خپل عاقبت ورته وخیم او خطرناک برېښي، د خطرناکي محاسبې له تصور نه د ځان ژغورلو لپاره ځان تلقینوي چي دا د قیامت ورځ نشته، حساب او کتاب او د عملونو مکافات او مجازات

نشته، همدا وجه ده چي قرآن فرمايي: د قيامت ورځ نه تکذيبوي مگر هر معتد او اثيم، دا ځکه چي هغه ته د دې خبري منل گران دئ چي د خپلي اعتدا، تجاوز، تېري، ظلم او د خپلو گناهونو سزا به گوري.

إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣ كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ١٤ المطففين: ١٣-١٤

چي کله زموږ آيتونه پرې ولوستی شي وايي: د مخکنيو کيسې دي!! نه، داسې نه ده، بلکي د دوی پر زړونو، د دوی لاس ته راوړنو زنگ وهلی دئ.

يعني دا کسان نه يوازي له خلکو سره په خپل چلند کي مطفف دي، بلکي له ځرگندو الهي آيتونو سره په معامله کي هم مطفف دي، دا دئ گورئ چي الهي آيتونه اساطيرالاولين گڼي، په څو معناوو:

١ – دا د آخرت، آخرت خبري مو ډېري اورېدلې، ډېرو دا خبره کړې چي قيامت راتلونکی دئ، بېرته به راژوندي کېږئ او د خپلو عملونو سزا به گورئ، خو تر اوسه نه قيامت راغی او نه د دوی وعد او وعيد ترسره شو.

٢ - قرآن ئې د تېرو قومونو د قصو مجموعه گڼلی، يوه تاريخي کتاب ته ورته!! دا يوازي دوی نه دي چي د الله لاربنود کتاب ته ئې اساطير الاولين ويلي، مخکنيو امتونو هم له الهي کتابونو سره دغه معامله کړې، دا دی وگورئ له تورات او انجيل سره هغو خلکو څه معامله وکړه چي په همدې کتابونو د ايمان دعوا کوي، راشئ بايبل وگورئ چې د مسخره کيسو مجموعه ترې جوړه شوې، داسې مسخره کيسې چي هر هوښيار او عاقل انسان ته خندا پرې ورځي، انسان د هغه چا عقل او شعور ته حيرانېږي چي

دا له مسخره کیسو ډک کتاب د الله تعالی له لوري په پیغمبرانو نازل شوی کتاب ګڼي، له قرآن څخه هم ډېرو هغو خلکو اساطیرالاولین جوړ کړی چي د ایمان دعوا کوي، څوک چې د قرآن بحثونه، وعد او وعید ئې په هغي زمانې پوري محدودوي چي دا کتاب په کي نازل شوی او ګمان کوي چي په قرآن کي دا له مؤمنانو سره د الهي تأیید او نصرت وعدې، د هجرت او جهاد احکام، د بري او فتح زېري، د دښمن د حتمي ماتې او د مؤمنانو د حتمي بریا او برلاسي وړاندویني، ټولي په همغي زمانې پوري مربوط ګڼي، د موسي علیه السلام او فرعون او نورو تاریخي څېرو او د دوی د زمانې د پېښو په اړه د قرآن بحثونه تاریخي بحثونه ګڼي، نه د الهي ثابتو سننو لپاره تاریخي بېلګي، په حقیقت کي دغو هم له قرآنه اساطیرالاولین جوړ کړی، قرآن دا څېرې او په دوی پوري اړوندي قصې د تاریخي بېلګو په څېر وړاندي کوي، پیغمبر علیه السلام ابوجهل د خپل امت فرعون ګڼي:

عن ابن مسعود ... قال فلما وقف علیه صلی الله علیه وسلم قال هذا فرعون هذه الأمة رواه الطبراني

له ابن مسعود نه روایت دی چې وئې ویل: کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ده د جسد خوا ته ودرېدو نو وئې ویل : دی د دې امت فرعون وو.

هو! هره زمانه ځان ته فرعون لري او په مقابل کې ئې یو موسی، د پیغمبر علیه السلام د امت فرعون ابوجهل وو. یعنی فرعون یوه تاریخي څېره نه، بلکي یوه تاریخي بېلګه ده، د ظلم، استبداد، اختناق، فساد او کفر بېلګه، د تاریخ فرعون مړ شوی خو د قرآن فرعون په هره زمانه کي

شته، نن هم شته او سبا به هم وي، د کلي په کچه هم، د هېواد په کچه هم او د ټولي نړۍ په کچه هم، پرون بريژنف يو فرعون وو او نن جورج بش يو فرعون دئ. عمر رضي الله عنه ته اطلاع ورکړی شوه چي فلاني د پخو خښتو دوه منزله کور جوړ کړی، وئې ويل: گمان مي نه کاوو چي د محمد عليه السلام په امت کي به هم کوم فرعون راپيدا شي، هماغه چي هامان ته ئې وويل: د پخو خښتو قصر راته جوړ کړه!! گورئ چې صحابه وو فرعون يوه تاريخي څېره نه؛ بلکي يوه تاريخي بېلگه گڼله، د دوی په نظر د قرآن په قصو کي د قرآن مفاهيمو ته عيني تجسم ورکړی شوی، الهي سنن په کي تمثيل شوي، عقايدو ته ترسترگو کېدونکي هيکلونه ورکړی شوي، د هري قصې په ترځ کي يوه مفهوم ته ژوندی او عملي مثال وړاندي شوی، ترڅو ښه څرگند شي او هرچا ته پرې پوهېدل آسانه شي. قرآن د دې لپاره چي خپل مخاطب په دې ښه پوه کړي چي د حق او باطل ترمنځ نزاع او د ظالم او مظلوم ترمنځ جگړه يو دائمي سنت دئ، دا جگړه پرون وه، نن شته او سبا به وي، خو تل به ئې نتيجه د حق غلبه او د باطل زوال او د حق پالو بريا او د باطل پالو ماتې وي، خو دا مطلب او ټول جوانب ئې خپلو مخاطبينو ته د فرعون او موسی عليه السلام د قصې په ترځ کي انځوروي.

د دغو مطففينو د ضمير صفحه لړلې او زنگو وهلې ده، فجور، کذب، اعتدا، اثم او نورو بدو عملونو او گناهونو د دوی پر زړه او دماغ داسي توره او پرېړه پرده غوړولې چي د دوی ټول معيارونه ئې ورته بدل کړي، د دوی قضاوتونه ئې تر خپل اغېز لاندي نيولي او د دوی کار ئې هغه ځای ته

رسولی چي د الله تعالی څرګند آيتونه اساطيرالاولين وګڼي، څوک چي د الله له آيتونو سره دا معامله کوي، هغه ته دا ډېره عادي خبره ده چي قيامت دروغ وګڼي، د خلکو له ښېګڼو او وړتياوو سترګي پټي کړي او په خپلو قضاوتونو کي د تطفيف مرتکب شي.

په دې توګه تاسو ګورئ چي د قرآن له نظره له آخرته انکار او د هغه تکذيب، د ګناهګارانو کار دئ، داسي نه ده چي هغوی د دې لپاره داسي عقلي دليل لري چي په خپله پرې قانع شوي يا بل پرې قانع کړي، هغه د خپلي ادعا د اثبات لپاره هيڅ دليل نشي وړاندي کولی، حقيقت دا دئ چي کافر د خپل کفر لپاره هيڅ دليل نشي وړاندي کولی، هغه له بل سره هم دوکه کوي او له ځان سره هم، له خپل عقل او ضمير سره خيانت کوي. د ده د کفر او د قيامت له ورځي د انکار باعث او دليل صرف دا دئ چي غواړي له ذهني فشار نه ځان وژغوري، ځان داسي تلقين کړي چي قيامت نشته، مواخذه او حساب کتاب نشته.

سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِکَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُکَ وَأَتُوبُ إِلَيْکَ

# فهرست

| عنوان | صفحه |
| --- | --- |


د ناشر مقدمه ------------------------------------ ۱
په آخرت ایمان --------------------------------------- ۳
پر آخرت د ایمان معنی:------------------------------- ٤
د آخرت د اثبات دلائل ----------------------------- ۸
هر څه پېل او پای لري: ---------------------------۱۷
د عملونو مکافات او مجازات: ------------------------۲۱
په عالم کي نظم او هدفمندي:-------------------------۳۷
په آخرت د ایمان غوښتني ---------------------------٦۱
آخرت ته په دنیا ترجیح ورکول-----------------------٦۱
دنیا وسیله او آخرت هدف ګڼل ---------------------٦۹
له مرګه نه وېرېدل------------------------------------۷۲
ډاډ او اطمئنان:---------------------------------------۸۱
جنت د چا لپاره؟---------------------------------------۸۳
د عمل او اجر ورته والی --------------------------۸۳
څوک به قیامت نه مني؟ ------------------------------۹۰